# ګرانه

# وروره

# سلام!

ګرانه

وروره

سلام!

# ګرانه وروره سلام!

# تاسو ته یو خط

# مسیحیت څه شی دی؟

## لیکوونکی

ډاکټر ویلیام م میلر

پہ ۲۰۰۳ تاریخ کې چاپ شو

## خپرونکی

ایوانجلیکل بوک ټرسټ
پوسټ بکس ۷۸۵۳
صدر، کراچی ۷۴۴۰۰

# فهرست

د لوی خدای په نامه ۱

ګرانه وروره سلام! ۲

۱- خدای تعالیٰ څوک دی؟ ۳

۲- انسان څوک دی؟ ۹

۳- ګناه څه شی دی؟ ۱۴

۴- آیا عیسویان د نبیانو او ملائیکو په شتوالی ایمان لری؟ ۱۲

۵- د عیسویانو پاک او مقدس کتابونه کوم دي؟ ۲۲

(۱)- پخوانی عهد ۲۲

(۲)- نوی عهد ۲۵

۶- عیسیٰ مسیح څرنګه وزیږیده او څه ئې وکړل؟ ۳۳

۷- عیسیٰ مسیح څوک دی؟ ۵۰

۸- د حضرت عیسیٰ کار د مځکی پر مخ څه ؤ؟ ۵۷

۹- انسان څه باید وکړی څو د خدای له خوا وبخښل شی او د ګناه څخه خلاصون حاصل کړ؟ ۶۱

۱۰= روح القدس څوک دی؟ ۶۴

۱۱- دری اړخیزه یووالی څه شی دی؟ ۶۹

۱۲- مسیحی جماعت څه شی دی؟ ۷۱

۱۳- د عیسویانو مذهبي مراسم کوم دي؟ ۷۲

(۱)- دعا ۷۲

(۲)- روژه ۷۷

(۳)- زکات ۷۸

(۴)- زیارت ۷۹

(۵)- اخترونه ۷۹

(۶)- پاک رواجونه ۸۰

(۷)- ازدواج ۸۱

۱۴- د حضرت مسیح اخلاقی تعلیمونه څه شی دي؟ ۸۳

۱۵- د عیسویانو عقیده د قیامت په هکله ۸۷

(۱)- د حضرت عیسیٰ راتګ ۸۷

(۲)- د مړو ژوندی کول ۹۰

(۳)- وروستنی قضاوت ۹۱

(۴)- جنت او دوزخ ۹۳

(۵)- د ايماندارانو مرګ ۹۵

خاتمه ۹۶

# د لوی خدای په نامه

سریزه:

دغه کتاب د پوهاند ویلیام میلر له خوا لیکل شوی دی. دا کتاب د عیسویانو د عقایدو په باره کې ډیرې څرګندونې کوي، نو له همدې کبله د ګرانو پښتنو هیوادوالو په خاطر دا دی اوس دغه کتاب د ګرانو لوستونکو د فایدې په غرض د ترجمی کرښو ته راولو.
د ډیرو خلکو سره کیدای شي چې دا پوښتنه پیدا شوی وي چې عیسویان څوک دي؟ خدای پیژني او که سوچه کافران دي؟ د دې پوښتنو د جواب په غرض دا ضرورت را منځ ته شو چې دا کتاب د ترجمان لاس ته وسپارو.
نوموړی امریکائی پوهاند چې بې شمیره کلونه ئې په ختیځ کې تیر کړی دي. دا کتاب چې اصلاً په یوه آسیائی ژبه باندې لیکل شوی وو، وروسته له دې نه چې د هغه ښه والی ښکاره شو، نو په ډیرو ژوندیو ژبو باندې ترجمه شو. او زه ویاړم چې دا موقع مې پیدا کړه چې دا ارزښتناکه اثر په پښتو ژبه وړاندې کړم. په دې کتاب کې کوشش شوی دی چې نه یوازې انجیل شریف وڅیړل شی، بلکه یو زیات شمیر نقل قول هم په کې شته چې مونږ هغه د موجوده انجیل د اصل نه عیناً نقلوو. د هر نقل قول په اخر کې د هغه قول حواله لیکل شوی ده.

په درناوي.

# ګرانه وروره سلام!

د هر څه نه اول ستا د روح او جسم سلامتی غواړم او له لوی خدای نه ډیر خوشحال یم چې ستا غوندې دوست لرم.
ګرانه په تیرو وختو کې تا یو څو پوښتنی درلودې چې له بده مرغه د وخت د لږوالی له کبله هغه ټولی پوښتنی بې جوابه پاتی شوې وې. نن خوښ یم چې کولی شم دغه اوږد لیک تاسو ته راورسوم او کوشش کوم چې ستا د ټولو پوښتنو جوابونه ولیکم. او تا ته ئې ښکاره کړم چې عیسویان په څه باندې باور لری؟ څه کوې، د دوې مذهبي دندې کومې دي او دوې څه رسمونه لری؟ تا ته به ښکاره وی چې په دنیا کې نژدې زر ملیونه خلک ځان عیسویان ګڼی: ځینی ایمانداره عیسویان دي. او ځینی له بده مرغه تش په نامه عیسویان دي. د نورو دینونو په شان عیسویان هم په بیلو، بیلو ډلو جدا شوی دي. او د دوې مذهبی رسمونه او عبادت فرق لری. دا یو غیر ممکن کار دی چې زړه د ټولو عیسوی ډلو عقیدی په دې خط کې ولیکم او یا داسې څه ووایم چې ټول عیسویان په هغه باندې عقیده ولری مګر دومره باور لرم چې په ملیونو عیسویان په دنیا کې شته، هغه حقیقتونه چې تاسی یې په دې خط کې لولۍ ورباندې عقیده لری.
هیله لرم چې د دې لیک د لوستلو سره خدای ته نژدې شئ او هغه ښه وپیژنئ. او محبت ورسره وکړئ، او په پوره توګه د هغه اطاعت وکړئ. اوس کوشش کوم چې ستا د سوالونو جواب ووایم.

## ۱- خدای تعالی څوک دی؟

ګرانه وروره! باور لرم چې ستا اوله پوښتنه به دا وی چې ((عیسویان د خدای تعالی په باره کې څه عقیده لری؟))

په هر مذهب کې تر ټولو د مخه د هغه مذهب عقاید او نظریات د خدای پیژندني په باره کې ډیر اهمیت لری. زه پوهیږم چې ناپوهه خلکو تا ته ویلی وي چې عیسویان دري خدایان لمانځی. ځینی وائی چې عیسویان صلیب پرست دي، بتان او انسانی مجسمی لمانځی. دا لاژمه ده چې تاسو پوه کړم چې دا خبره سر تر پایه سوچه دروغ ده رښتینی عیسویان په یوه خدای باندې عقیده لری. او که څوک په یوه خدای عقیده نه لری لوی کافر او ګمراه دی. وګورئ! هغه چا چې له حضرت عیسیٰ څخه پوښته وکړه چې د خدای تعالی لوی حکم کوم دی؟ عیسیٰ جواب ورکړو، اول دا دی چې: ((ای اسرائیله واؤره! مالک زمونږ خدای یو مالک دی. تهٔ د مالک د خپل خدای سره د ټولو زړهٔ سره، د خپل ټول روح، د خپل ټول عقل او خپل ټول طاقت سره مینه کوه)) (مرقوس ۱۲: ۲۹-۳۰).

په تیرو وختونو کې د خدای تعالی ټولو انبیاؤ ویل چې خدای یو دی او خلک ئې له بت پرستئ څخه ویرول.

عیسویان په هغه واحد خدای عقیده لری چې لازمان او لامکان دی. نه اول لری او نه آخر خدای تعالی ازلی او ابدی دی. مونږ په هغه خدای ایمان لرو چې په هر څه خبر دی او د ټولو قدرتونو خاوند دی او ټول لیدونکي او نه لیدونکي شیان د ده د کلام

پواسطه منځ ته راغلي دي. که څوک لږ عقل ولري او آسمان ته وګوري ټول آسمانی شیان لکه لمر، سپوږمۍ، او په ملینونو ستورو ته ځیر شي او کوشش وکړي چې د لوی خدای د لویوالی په یو وړوکی برخه باندې وپوهیږی، نو د داود علیه سلام په شان به ووائی:

((آسمانونه د لوی خدای جلال او لویوالی څرګندوی او فلک د دهٔ د لاسو عمل بیانوي)) (زبور ۱۹: ۱). د لوی خدای قدرت ا وحکمت څومره لوی دی چې نه یوازی په آسمان کې ستوری او نور فلکی شیان منځ ته راوړی، بلکه په مځکه کې ئې ډیر واړه ګلونه او حشری پیدا کړی دي او د دوي ساتنه هم کوي. لوی خدای مطلق قادر دی، هر څه چې وغواړی هغه، هغه کوي. هیڅ څوک او هیڅ شئ د لوی خدای د فیصلی مخه نه شي نیولي. پاک خدای د دې دنیا لپاره پلان لری او هیڅ شی دا قدرت نه لری چې د دې پلان د اجرا کولو مخه ونیسی. مونږ کامل ایمان لرو چې خدای تعالیٰ نه یوازی لوی او قادر دی، بلکه ډیر پاک هم دی. په تیرو وختونو کې چې رومیانو او یونانیانو په ډیرو خدایانو باندې عقیده درلوده، فکر ئې کاوه چې خدای تعالیٰ نَعوذُبِاالله لکه انسان دروغ وایی، غلا او قتل کوي او نور ناوړه کارونه ئې له لاسه منځ ته راځی. ولی په انجیل شریف کې ویل شوی دي چې خدای د هر شی نه پاک دی، او هیڅ عیب په کې نشته او پوره کامل دی. د پاک خدای یوه نژدې بنده، ملائیکی ولیدی چې په سجده پریوتی دي او د خدای په حضور کې وائې ((قدوس! قدوس! قدوس! رب القادر د ټولو، هغه چې وو، چې دې، او چې

راتلونکې دی›› (مکاشفه ۴: ۸). که څه هم ټول قدرتونه پاک الله په لاس کې دي، مګر لوی خدای نشی کولی هغه څه چې د دهٔ د پاک ذات مخالف دي وکړي، مثلاً لوی خدای نه شی کولی چې دروغ ووایی او یا کوم غیر عادلانه عمل اجرا کړی.

څرګنده ده چې لوی خدای لامکان او لازمان دی او لکه انسان بدن نه لری او په هر ځای کې حاضر دی. کله چې مونږ د لوی خدای د لاس، سترګی او زړه څخه خبری کوو، مګر دا جسمانی اصطلاحات د معنوی مقاصدو لپاره استعمالوو. لوی خدای له مونږ نه ډیر لوی او ډیر لوړ دی او مونږ ته ډیر نژدې هم دی. ځکه وایو چې لوی خدای مونږ په خپلو سترګو وینی، پخپلو لاسو مو ساتی او په خپل زړه کې مونږ سره محبت کوي.

که څه هم د لوی خدای ټول صفات مونږ ته ارزښتناک دي، مونږ عیسویان ډیر شکر ګزار یو. هغه خدای چې مونږ ئې پرستش کوو د محبت خدای دی او دا صفت تر ټولو ډیر مهم دی لکه چې انجیل وایی: ‹‹خو څوک چې مینه نهٔ لری هغه خدای نهٔ پیژنی، ځکه چې خدای مینه دی›› (اول یوحنا ۴: ۸).

یعنی هر څه چې پاک خدای ئې کوي د محبت له مخی دي. لوی خدای خپل محبت انسان ته په بیلو، بیلو شکلونو ورښیی چې له هغې جملې نه د انسان د احتیاجاتو پوره کول، لکه باران، لمر، ډوډۍ، اوبه، کالي او نور هغه شیان چې د مځکی پر مخ انسان ورته محتاج دی. الله تعالی خپل محبت د انبیاؤ په رالیږلو سره مونږ ته څرګند کړو، تر هغو چې انبیاء د هغه په باره کې مونږ سره خبری وکړی. تر ټولو څخه د لوی خدای ستر محبت د خلاصونکی

رالیږل ؤ چې په دې باره کې به وروسته خبرې وکړو. لوی خدای د خپلو ټولو بنده ګانو نیک مرغي غواړی. حضرت داؤد علیه سلام د لوی خدای لار ښوونه چې دهٔ ته شوی وه په ډیر ښکلو کلماتو کې بیانوی ((لوی خدای زما شپون دی زه به هیڅ شی ته محتاج نه شم ما په شنو دشتو کې بیدوی، او ما آرامه اوبو ته بیایی، هغه ما بیرته ګرزوی. او د خپل نامه لپاره ما د عدالت لارو ته سموی)) (زبور **۲۳**: ۱-۳).

دا ډیره طبیعی خبره ده چې لوی خدای هغه چا سره مینه لری چې څوک د خدای تعالیٰ اطاعت کوي او مینه ورسره لری. آیا پاک الله په ناصالحو باندې مینه لری؟ معلومه ده چې پاک خدای ډیر پاک دی، له بدو نه کرکه لری او ښه والی سره مینه. هغه وخت چې خلک ناوړه کارونه کوي، لوی خدای په داسې خلکو باندې غضبناک کیږی، لکه چې داؤد علیه سلام الله ته وایی ((له ټولو خلکو نه چې ناوړه کارونه کوي کرکه کوي)) (زبور **۵**: **۵**).

پاک خدای خپله کرکه د ناوړو خلکو د سزا ورکولو په وسیله څرګندوي. هغه وخت چې مونږ انجیل لولو وینو چې لوی خدای هغه ملتونه او خلک چې د دهٔ سره ئې دښمنی کړی ده او له توبه کولو نه ئې ډډه کړی ده څنګه تباه کړی دي.

اوس اجازه راکړي چې یو څرګند حقیقت تاسو ته بیان کړم. همدارنګه چې لوی خدای د بد کردارو نه کرکه کوی، له بلی خوا غواړی چې دوي د خپلو ګناهونو نه پاک او ویی ساتی. خدای په دوي باندې مهربان دی، او لکه داسې پلار دی چې که زوی د دهٔ او امر ونه منی بیا هم له هغه سره مینه کوي. د پاک الله دا مینه د

حضرت عیسیٰ د یو داستان په وسیله څرګنده شوی ده. په دې داستان کې حضرت عیسیٰ وایی چې: «د یو سړی دوه زامن وو. او کشر ئې خپل پلار ته وویل،پلاره! زما برخه جائیداد ما ته راوسپاره. نو پلار خپل جائیداد په هغو وویشلو. لږه موده پس هغه کشر زوی ئې خپل ټول جائیداد خرڅ کړو، پیسی ئې پرې نغدې کړې او چرته لرې وطن ته لاړو او هلته ئې خپل مال په بد چلنې دوړه کړو، او هر څه ئې ضائع کړل. کله چه په هغه وطن سخت قحط راغی او هغۀ ته ئې هم تاؤ ور ورسیدو، نو هغه لاړو او د هغه ملک د یو زمیندار سره نوکر شو او هغۀ هغه پټی ته واستولو چه خنزیران وڅروي. د هغۀ ډیر زړۀ کیدو چه د هغه پلو نه ګیډه ډکه کړي کوم چه به دې خنزیرانو خوړل خو هیچا هم هغۀ ته دا نۀ ورکول. بیا هغه په هوش کې شو او وئې ویل، زما د پلار څومره نوکران د خپل ضرورت نه زیاته ډوډۍ لری او زۀ یم چه دلته د لوږی مرم! زۀ به لاړ شم خپل پلار ته به ووایم چه پلاره! زۀ هم د خدای او ستا په مخکې ګناه ګار یم. نور زۀ د دې قابل نۀ یم چه تۀ ما ته خپل زوی ووایی، ما تۀ د خپلو نوکرانو په شان شماره. او په دې نیت هغه د خپل پلار کور ته روان شو، خو لا هغه ډیر لرې وو چه د پلار نظر پرې پریوتو او زړۀ ئې پرې وسوځیدلو. هغۀ وردو کړو او ور تر غاړه وتو او کښل ئې کړو.

خو زوی وویل،پلاره! زۀ د خدای او ستا په مخکې ګناه ګار یم. پس د دې زۀ ستا د زوی بللو لایق نۀ یم. خو پلار ئې خپلو نوکرانو ته وویل، زر شئ! زما غوره چوغه راوړئ او دۀ ته ئې ورواغوندئ او ګوته ور په لاس کړئ او څپلئ ور پښو کړئ. یو څورب سخی

راولې اَو حلال ئې کړې او راځئ چه خوشحالي وکړو! ځکه چې زما دا مړ زوئې بیا راژوندی شو، دی خو ورک شوی وو او بیا موندے شو. او دغه شان خوشحالي شروع شوه.))

حضرت عیسیٰ وویل چې: ((لوی خدای هم همدارنګه هغه خلک چې ګناهګار دي مینه ورسره کوي)) (لوقا ۱۵: ۱۱-۲۴).

ګرانه وروره! په دې حقیقت پوهیدل چې لوی خدای مونږ سره مینه کوي. او غواړی مونږ وبخښی او تیار دی چې هر وخت مونږ توبه وکړو او د دهٔ خواته ولاړ شو مونږ ومنی دا مونږ ګناهګارانو لپاره ډیره خوشحالونکی خبره ده.

په انجیل شریف کې د لوی خدای د پاره ډیر نومونه ذکر شوي دي چې له هغې جملې نه مطلق قادر، خدای تعالیٰ، متعال، ابدی، ژوندی، قدوس، عادل، پادشاه خلاصونکی، خالق او د خلکو شپون دی، مګر مونږ عیسویان د دهٔ یو نوم چې ((آسمانی پلار)) دی ډیر خوښوو. هر کله چې حضرت عیسیٰ د لوی خدای په باره کې خبری کولي هغه ویل (زما پلار). حضرت عیسیٰ خپلو شاګردانو ته ویل هر کله چې دعا کوي داسې وواییی: ((ای په آسمان کې زمونږ پلاره! ستا نوم دې پاک وي)) (متی ۲: ۹). آیا د انسان د پاره تر دې لوی ویاړ شته چې د پاک الله روحانی زوی شي او وپوهیږی چې لوی خدای د دهٔ له مینی نه ډک پلار دی. دا لوی ویاړ هر چاته چې په حضرت عیسیٰ ایمان راوړی وربخښل کیږي. که د مطالعی په وخت کې دا سوال درته پیدا شوي وي چې دری اړخیزه یوالی څه شی دی. نو صبر وکړئ چې زه وروسته دا لوی اعتقاد تاسو ته څرګند کړم.

## ۲- انسان څوک دی؟

ګرانه وروره! مخکې مې تا ته د عیسویانو د ایمان په باره کې چې په خدای تعالیٰ باندې ئې لری، یو لنډ مطلب وړاندی کړو.
اوس به کوشش وکړم چې تاسو ته څرګند کړم چې عیسویان د انسان د پیدایښت په باره کې څه نظر لري؟ ځکه چې د انسان د پیدایښت په باره کې د صحیح عقیدی درلودل دومره ضرور دي لکه چې د خدای تعالیٰ په باره کې د صحیح اطلاعاتو درلودل ضرور دي. د انسان په باره کې څرګندوني د انجیل څخه اخیستل کیږي.
د تورات شریف په سر کې ویل شوی دي، «هغه وخت چې خدای تعالیٰ آسمانونه، مځکه او ټول کائنات او حیوانات پیدا کړل، پس له هغې نه یې انسان پیدا کړ او انسان یې نر او ښځه پیدا کړل پاک خدای انسان په خپل صورت پیدا کړ» (پیدایښت ۱-۲).
دا مطلب داسی معنیٰ نه ورکوي چې نعوذبالله لوی خدای د جسم خاوند دی، او د انسان جسم یې لکه د ځان غوندې پیدا کړی دی.
د الله مطلب دا دی چې انسان ئې روحاً د ځان په څیر پیدا کړی دی. الله تعالیٰ انسان ته عقل ورکړ چې په هغه باندې استدلال وکړي، زړه ئې ورکړ چې په هغه باندې مینه وکړي او انسان ته ئې وجدان ورکړ چې ښه له بدو تمیز کړي، اراده ئې ورکړه چې ښه کارونه سر ته ورسوي، ژبه ئې ورکړه چې خبري وکړي او روح ئې ورکړ چې د هغه په واسطه له خدای سره مینه وکړي. خدای تعالیٰ انسان داسی د ځان په څیر پیدا کړ چې وکولي شي خدای وپیژني

له دي کبله انسان له ټولو مخلوقاتو لوړ دی. ځینی کسان اشتباه کوي او وائې چې انسان په هغه وخت کې خدای ؤ. ولی ربنتیا خبره دا ده چې په هغه وخت کې انسان خدای ته ډیر نژدې ؤ او ډیر پاک ؤ. ځکه چې په هغه کې ګناه نه وه. د ماشین په څیر نه ؤ، ولی چې خدای هغه ته اراده ورکړی وه تر هغو چې د خوښولو اختیار ولری. خدای تعالی انسان خپلواک پیدا کړی دی، تر هغو چې دی خپل اختیار د پاک خدای اطاعت، عبادت او خدمت وکړي. د خدای تعالی ارزو داسې وه چې ټول خلک په دنیا کې هغه د خپل پلار په توګه وګڼی. دوي یو بل سره لکه وروڼه ژوند وکړي او په خوشحالئ سره د پاک خدای اراده په دې دنیا کې پر ځای کړی. زموږ په ننني دنیا کې ډول، ډول نژادونه شته دي چې د رنګ، جسم او د ژبې له کبله یو بل سره ډیر فرق لری، مګر ټول له یوی وینی نه دي. او په یوه کهول پوری تړلی دي او د دوی ټولو سره خدای یو شان مینه او محبت لري.

په خواشینی باید ووایو هغه څه چې د پاک خدای اراده وه د انسان په باب عملی نه شوه. د دې په ځای چې انسان د خپلی آزادی ارادی نه د خدای تعالی د اطاعت او خدمت په باره کې استفاده وکړي، د هغه په ځای یې د پاک خدای د دښمنئ په لار کې استفاده ترې کوي، لکه په دوهم او دریم فصلونو کې وویل شو. لوی خدای زموږ لومړنی مور او پلار (حضرت آدم او (بی بی حوا) ته امر وکړ چې د هغه ونی له میوی څخه چې ښه او بد معلوموی ونه خوري دا ونه د عدن د باغ په مینځ کې وه، چیرې چې انسان هلته پیدا شوی ؤ. خدای تعالی هغوی ته وویل ((که دوي له دې

میوی نه وخوری، نو ضرور به مړۀ شي)) نو شیطان د مار په شکل باغ ته دننه شو، او بی بی حوا ئې راضی کړه چې له هغه میوی نه وخوری، پس له هغه نه بی بی حوا هغه میوه حضرت آدم ته ورکړه او هغه هم له دې میوی نه وخوړه. زمونږ د لومړنی مور او پلار دا کار یوه وړه خطاء نه وه، بلکه یو عمدی بې اطاعتی د خالق په مقابل کې وه. هغوی غوښتل چې خدای شي. هغوی نه غوښتل چې د خدای د ارادی اطاعت وکړي، بلکه هغوی غوښتل چې خپلی غوښتنی سر ته ورسوی. لوی خدای په هغوی په قهر شو او هغوی ته ئې سخته سزا ورکړه، هغوی یې له باغ څخه وویستل تر هغو چې د ویر څخه په ډکه دنیا کې ژوند وکړي. تر ټولو ناوړه کار دا ؤ چې حضرت آدم او بی بی خوا د پاک خدای نژدې والی له لاسه ورکړو، او په پای کې ئې بله بڼه غوره کړه. اول دوي پاک او بې ګناه وو او وروسته لړلي او ګناهګاران شول. مخکې له دې نه چه د خدای نافرمانی وکړی دوي کولی شول هغه څه چې د خدای رضا وه په ښه توګه سر ته ورسوی. مګر پسته دوی په حقیقت پوه وه مګر لاژم قدرت ئې د هغه د پیروي لپاره نه درلوده. د زمانی په تیریدو سره سم له هغه شي نه چې ښه وه زړه توری شول او ناوړو اعمالو سره ئې مینه پیدا شوه. دا ډول پاڅون د لوی خدای په مقابل کې د انجیل شریف سره سم ګناه ګڼل کیږي او د هغه پای مرګ دی.

د انسان د لومړنی ګناه څیړل او تشریح کول زمونږ لپاره ډیر اهمیت لری، ځکه د هغه پواسطه کولي شو د ننني انسان په حالت باندې وپوهیږو. د دې دنیا خلک د پیدایښت په سر کې لکه

حضرت آدم او بی بی حوا پاک او سپيڅلی نه دي. د دې حقيقت د پيدا کولو لپاره ضرور نه دی چې بل څوک وځيږو، بلکه کفايت کوي چې خپلو زړونو ته وګورو ډير شيان دي چې مونږ د هغه په بدوالی خبر يو، مګر هغه کارونه کوو، مونږ پوهيږو چې دروغ ويل بد دي مګر کله، کله مونږ هم دروغ وايو، په دې پوره خبر يو محبت تر نفرت ښه دی مګر د ډيرو نه نفرت لرو. ولی دا کارونه؟ ځکه چې مونږ ته له خپل اولنی مور او پلار نه ګناه په ميراث پاتی شوی ده. لکه د هغوی غوندې نه غواړو او کولی نه شو چې د پاک الله اراده په پوره ډول تر سره کړو.

هغه وخت چې يو ماشوم په دنيا کې پيدا کيږی داسې معلوميږی چې بې ګناه او پاک دی مګر ډير ژر په هغه کې شرارت پيدا کيږی. لکه چې حضرت داؤد د خپل ځان په باره کې وايی ((زه له ګناه څخه جوړ شوی يم او مور مې په ګناه لرلې وه چې زه ئې په حمل اخيستی يم)) (زبور ۵۱: ۵).

ټول مجبور يو چې دا حقيقت ومنو، چې ټول انسانان په ګناه لرلي دي، او د پاک خدای له کلام سره موافقت وکړو چې وايی ((زړه له هر شی نه غولوونکی دی او ډير ناروغ دی، څوک دی چې په دې وپوهيږی)) (ارميا ۱۷ : ۹).

له همدې کبله ؤ چې حضرت عيسیٰ وفرمايل ((ځکه چې د انسان د زړۀ نه بد خيالونه راوزی، حرام کاری، غلاګانی، خونونه، زناکاری، حرص، بدی، ټګی، بې شرمی، بد نظر، کفر، مغرورتيا او بې وقوفی دا ټول بد کارونه دننه نه راوزی او دا سړی پليتوی)) (مرقوس ۷: ۲۱-۲۳).

پاک خدای چې د انسان زړهٔ ښهٔ پیژني ویلی دي چې: ((هیڅوک صادق نشته یو هم نه نشته)) (رومیان ۳: ۱۰).

فقط یو سړی دی چې له نورو نه فرق لري او د انسان څخه جګه مرتبه لري، چې د هغه په باره کې به وروسته معلومات درکړم.

د انسان حالت ډیر خراب دی، ولی چې د نافرمانۍ په نتیجه کې ئې خپل تعلق د خدای تعالٰی سره ختم کړو انسان لکه هغه ورک شوی پسه دی چې په بې اوبو او بې واښو دشته کې مړینی ته نژدې وي (اشعیاء ۵۳: ۲).

ولی چې نور انسان د خدای روحاني زوی نه دی اوس انسان د خدای تعالٰی دښمن ګرځیدلی دی او د ګناهونو او شیطان په بند کې دئ (رومیان ۲: ۱۷).

انسان نه شي کولی د خدای په سپیڅلو لارو کې وګرځی په حقیقت کې دی په په ګناهونو کې ډوب او مړ دی (افسیان ۲: ۱).

هم هغسی چې خدای تعالٰی حضرت آدم علیه سلام ته ویلی ؤ، چې د ګناه نتیجه مرګ دی جسمی مرګ او روحي مرګ (روحي مرګ د الله نه بیلوالی دی).

## ۳- ګناه څه شی دی؟

ګرانه وروره! اوس باید زیار وباسم او په څرګنده توګه ووایم چې ګناه څه شی دی؟ ګناه یوازی د ناوړو کارونو کول لکه غلا، زنا، قتل، مستی او داسې نور دي. ګناه لری کیدل د پاک خدای نه دي او د هغو کارونو کولو چې د پاک خدای د ارادی مخالف وی. یوازی ناوړه کارونه په ګناه کې شامل نه دي بلکه غرور، حسادت، نفرت او شهوانی فکرونه هم ګناه بلل کیږی. حضرت عیسیٰ ویلی دی چې:

((د پاک خدای ډیر لوی حکمونه دا دي چې له خپل خدای سره د زړه له کومې مینه ولرو، او خپل ګاونډی سره داسې مینه ولرو لکه چې خپل ځان سره ئې لرو (مرقوس ۱۲: ۲۹-۳۳).

پورتنی دوه حکمونه د پاک الله اصلی حکمونه دي. په همدې دلیل کموالی د خدای تعالیٰ په مینه کې او کموالی د نورو په مینه کې ډیره لویه ګناه ده. آیا داسی څوک پیدا کیږی چې دا حکمونه یې په بشپړه ډول اجرا کړي وي، ټولو خلکو دا حکمونه مات کړي دي، غیر له حضرت عیسیٰ نه چې بې ګناه او پاک ؤ. حضرت عیسیٰ یو کامل ژوند درلوده، پاک الله غواړی چې مونږ هم لکه هغه غوندی ژوند ولرو.

د لوی خدای امر داسی دی چې ((تاسو کامل شئ لکه څنګه چې ستاسو آسمانی پلار کامل دی)) (متی ۵: ۴۸). ولی مونږ انسانان چې زمونږ زړونه له ګناه او شرارت څخه ډک دي، څنګه کولی شو هغه رنګ چې خدای تعالیٰ فرمایلی دي ښه او بې ګناه واوسو.

هغه څوک چې د سرطان ناروغی ولری، هغه د پرهیز په باره کې نصیحت ته ضرورت نه لری بلکه یو پوه ډاکتر ته ضرورت لری چې وکولی شی روغ ئې کړي. هغه څوک چې د ګناه په ناروغتیا اخته وی، د هغه علاج د شرعی قوانینو، امر او نهی او د ښه والی د اوامرو په آوریدو سره نه روغیږی هغه دغه داسې یو روحاني ډاکتر ته ضرورت لري چې وکولی شي، دی بدل کړي او په هغه کې نوی زړه، نوی اراده او نوی قوت پیدا کړی. تر څو هغه وکولی شي هغه څه وکړی چې پاک الله یې له هغه نه غواړی. دا یوه معلومه خبره ده چې ټول انسانان هغه چا ته محتاج دي چې وکولی شی دوي له ګناه څخه خلاص کړی او د خدای زامن ترې جوړ کړي. پس تا ته به دا خبره څرګنده کړم چې لوی خدای په خپل لوی قدرت سره څنګه یو خلاصونکی د دې جهان لپاره رالیږلی دی.

## ۴- آیا عیسویان د نبیانو او ملائیکو په شتوالی ایمان لری؟

ګرانه وروره! اوس غواړم ستاسی بل سوال ته د عیسویانو د عقیدی په باره کې چې انبیاوو ته ئې لری جواب ووایم. عیسویان عقیده لری چې پاک خدای انبیاء راولیږل، چې د هغوی په واسطه خپل کلام بنده ګانو ته ورسوی. د ګناه په علت ډیرو خلکو نه غوښتل چې د پاک الله کلام واوری او یا چې د روحانی کوښوالی په خاطر دوي نه شو کولی چې د خدای کلام واوری. ولی یو څو نران او ښځی ؤ چې توبه ئې وکړه او خدای تعالیٰ دوي وبخښل. خدای تعالیٰ د هغوی سره خبري وکړي او هغوی ته ئې هدایت ورکړ چه د الله کلام نورو ته ورسوی له دې کبله هغوی د خدای تعالیٰ پیغمبران شول.

زمونږ معلومات د انبیاؤ په باره کې د مقدس کتاب څخه سر چینه اخلی چې د ځنو پیغمبرانو د ژوند قیصی او کارونه په کې ویل شوی دي کوم چې د خدای د کلام د رسولو لپاره خلکو ته رالیږل شوی ؤ. د هغو انبیاؤ نومونه چې په مقدس کتاب کې راوړل شوی دي دا دي: حضرت ابراهیم، حضرت موسیٰ، حضرت هارون، (د موسیٰ ورور) مریم (د موسیٰ خور) ناتان، سموئیل، داؤد، ایلیا، الیشع، اشعیا، ارمیا، یونس، یوئیل، دانیال، یحییٰ چې آخرین پیغمبر ؤ چې د حضرت عیسیٰ څخه مخکی ؤ. او حضرت ابراهیم خلیل الله، چې د خدای دوست او د ایماندارانو پلار بلل کیږی. دی د خدای تعالیٰ په واسطه وټاکل شو چې د

ډیرو قومونو پلار اووسی. په زوړ عمر کې ده ته یو زوی وبخښل شو چې د دې د میرمنی ساره څخه دنیا ته راغی چې نوم یې اسحٰق ؤ او حضرت ابراهیم د خدای د امر د پر ځای کولو لپاره، دې ته تیار شو چې خپل زوی اسحٰق قربانی کړی ولی پاک الله یو ګډوری د اسحٰق پر ځای منځ ته راوړ (پیدایښت ۲۲: ۱-۱۹).
پس له هغی نه خدای تعالیٰ ابراهیم سره وعده وکړه چې د اسحٰق د نسل څخه به دنیا ته خلاصون او برکت ور په برخه کړي او دغه وعده د حضرت عیسیٰ په راتګ سره پوره شوه.
پس له عیسیٰ څخه نور رسولان لکه پطروس او پولوس منځ ته راغلل چې د خدای کلام ئې خلکو ته وړاندې کړ او هغوی ته ئې وویل چې په عیسیٰ باندې ایمان راوړئ. مونږ عقیده لرو چې دوي د خدای آخرینی پیغمبران وو ولی له یو نظر نه هر څوک چې د خدای حقیقی پیغام خلکو ته رسوی نبی ورته ویل کیږی.
نظر په دې چې د عیسویانو عقیده د انبیاؤ په باره کې له نورو مذاهبو سره فرق لري، غواړم چې یو څو حقایقو ته اشاره وکړم:
۱- د انبیاؤ شمیر څرګند نه دی او د ډیرو نومونه مونږ نه پیژنو.
۲- ټول انبیاء تر هغه ځایه چې مونږ پوهیږو د ابراهیم خلیل الله د نسل څخه دی.
۳- ټول پیغمبران د یوې دوه زره کلنی مودي په اوږدوالي کې لیږل شوي دي.
۴- انبیاء عموماً اسرائیلو ته لیږل کیدل ځکه چې اسرائیل د پاک الله له خوا داسی قوم وټاکل شو چې تر ټولو ښه قوم وی. او د

هغوی په واسطه د پاک الله کلام او حقیقت نورو ته څرګند او وپیژندل شي.
۵- انبیاء بې ګناه نه وو، خو هغه کسان وو چې ګناهونه ئې خدای بخښلی وو.
۶- انبیاء د خلکو له هغه خپلواکو پرګنو څخه منځ ته راغلل چې ځینی شتمن، ځینی بې وزله، ځنو تحصیل درلود، او ځینی ئې هم بې زده کړي وو. چې په دوي کې ځینی ځوانان او ځینی هم زاړهٔ وو.
۷- ځنو انبیاؤ لکه حضرت ایلیا او یحییٰ کوم کتاب ونه لیکه، ولی ځنو نورو لکه حضرت موسیٰ حضرت داؤد، حضرت اشعیا، حضرت یوحنا او پولوس د خدای کلام ولیکه تر څو چې نور نسلونه ترې ګټه واخلی.
۸- د پاک خدای کلام انبیاؤ ته په بیلو، بیلو طریقو راتلو. ځنو د پاک الله آواز آوریدو، ځنو د خدای کلام د فرښتو په وسیله لاس ته راوړ، ځنو خوب او ځنو رویا لیدله او ځنو هم د خدای کلام د خپل فکر او زړه پوسیله حس کاوه. ټولو انبیاؤ ټینګ ایمان درلوده، چې پاک خدای هغوی سره خبري کړی دي او په ټینګه عقیده به ئې ویل، ((لوی خدای داسې فرمائی)).
۹- ځنو انبیاؤ ته لکه حضرت موسیٰ، الیشع او پطروس ته د معجزی قدرت ورکړل شو، تر هغو چې دوي د لوی خدای د وینا حقیقت د هغه پواسطه ثبوت ته ورسوي. ولې ځینی لکه حضرت یحییٰ کومه معجزه ونه ښودله.

هغه انبياء چې مخکې له حضرت عيسیٰ نه راغلی ؤ، خلکو ته يې ويل چې خدای څوک دی؟ او له دوي نه څه غواړی او هغوی ته ويل چې که څوک د پاک خدای اطاعت ونه کړي، خدای به هغوی ته جزا ورکړي. او همدارنګه هغوی ته به يې زيري ورکاوه، چې که دوي له ګناهونو نه لاس واخلی او د لوی خدای خوا ونيسی نو الله تعالیٰ به هغوی وبخښی او برکت به ورکړی. حضرت موسیٰ يواځينی نبی ؤ چې شرعی قوانين د هغه په وسيله د اسرائيلو قوم ته د خدای تعالیٰ په واسطه راوليږل شو. هغه انبياء چې د حضرت موسیٰ نه وروسته راغلل خلک به ئې د حضرت موسیٰ د قوانينو د پيروي لپاره تيارول. مګر د ګناهکار انسان لپاره دا خبره ډيره سخته وه چې په پوره توګه د پاک خدای د ټولو قوانينو پيروي وکړي، له دې کبله شريعت په دې قادر نه ؤ چې دوي خلاص کړي، مګر لکه هنداره د دوي ګناهونه ئې دوي ته ورښودل او هغوی ئې پوه کول چې څومره زيات يو خلاصونکی ته محتاج دي.

د انبياء له ډيرو لويو کارونو څخه يو دا ؤ چې خلکو ته ئې ويل الله تعالیٰ به خلاصونکی چې خلک ډير ورته محتاج دي دوي ته راواستوی. کله مو چې د حضرت عيسیٰ په باره کې خبري کولي هغه وعدي به هم ذکر کړم، چې د پخوانيو نبيانو په کتابونو کې راغلي دي.

په مقدس کتاب کې راغلي دي چې غير له انسان نه نور موجودات هم شته چې ملائيکي دي. د ملائيکو په واسطه د پاک الله کلام او اراده پيغمبرانو ته راليږل شوي ده.

دا ملائیکی حضرت ابراهیم، حضرت موسیٰ او نورو پیغمبرانو ته د انسان په خیر راغلی دي. په مقدس کتاب کې د دوو ملائیکو نومونه چې میکائیل او جبرائیل دي ذکر شوي دی. حضرت جبرائیل ؤ چې بی بی مریمی ته ئې وویل چې د عیسیٰ په نامه د یو زوی خاونده به شي.

برسیره پر ملائیکو باندې نور ارواح هم موجود دي. دوي د خدای اطاعت نه کوي او د دوي مشر شیطان دی. عیسویان فکر کوی چې شیطان د الله تعالیٰ په واسطه پاک پیدا شوی، ولی د غرور په واسطه ئې د پاک الله نافرمانی وکړه او هغه ارواح چې د هغه پلوی ئې کړی وه، خپل لوی پاک آسمانی منزلت ئې د لاسه ورکړ. اوس دوي په خپل ټول قدرت سره زیار باسي چې د خدای کارونه د مځکی په مخ وران او خراب کړي.

همدغه شیطان ؤ چې بی بی حوا ئې د عدن په باغ کې تیر ایستله او له هماغی زمانی ته تر اوسه پوری زیار باسي چې خلک د خدای د لاری نه لری وساتي. ((رُوح القُدوس هغه وخت عیسیٰ بیابان ته بوتلو چې په ابلیس ئې و آزمائی. هغۀ څلویښت ورځې او څلویښت شپې روژه ونیوله او په آخر کې هغه وږی شو. بیا آزمیښت کوونکی ورغی او ورته ئې وویل، ((که تۀ د خدای زوی یی نو دې کاڼو ته ووایه چې ډوډۍ شي. ))

عیسیٰ جواب ورکړو، "صحیفی وائی چې: ((بنی آدم تش په ډوډۍ نۀ پائی خو هغه په هره هغه خبره پائی چې د خدای د خلی نه وځی.))" (متی ۴: ۱- ۱۱). شیطان د یو لوی قدرت خاوند دی ولی هیڅکله نه شی کولی چې د پاک الله سره برابری وکړی بلکه

شیطان د لوی خدای تر کنترول لاندې دی. عیسویان باید له شیطان او هغه ارواح چې د شیطان تر لاس لاندې دي ویره ونه لري. ځکه چې کولی شي د هغه قدرت په وسیله چې حضرت مسیح مونږ ته راکړی دی د شیطان په مقابل کې ودریږو او هغه له ځایه لری کړو. په پای کې به لوی خدای شیطان په ابدی اور وسوزوی (مکاشفه ۲۰: ۱۰).

## ۵- د عیسویانو پاک او مقدس کتابونه کوم دي؟

ګرانه وروره! اوس به د مقدسو کتابونو په باب خبري وکړم او ستا پوښتنی ته به په دې هکله جواب ووایم، څرنګه چې پوهیږی عیسویان او یهودیان له ډیر وخت نه ((**اهل کتاب**)) بلل کیږی او دا نوم په واقع کې ډیر معقول او په ځای دی. ځکه چې یهودیان او مسیحیان خپله ژوره مینه او پلوی د مقدس کتاب د ساتلو لپاره څرګنده کړی ده.
هغه کتابونه چې عیسویان ئې پاک ګڼی کوم دي؟ د عیسویانو مقدس کتاب له ۶۶ کتابونه څخه جوړ شوی دی او د ټولو نه یو ټوک راوتلی چې مقدس کتاب ورته ویل کیږی. دا مقدس کتاب په دوه برخو ویشل شوی دی. چې په پخوانی عهد او په اوسنی عهد یادیږی اوس د دې دواړو برخو په باره کې په جلا ډول خبري کوو.

### (۱)- پخوانی عهد

دا برخه له ۳۹ کتابونه جوړه شوی ده چې دا ټول د عیسویانو او یهودیانو له خوا د مقدس کتاب په صفت قبول شوي دي. دا کتابونه په عبراني ژبه د مختلفو لیکونکو له خوا تقریباً زر کاله پخوا لیکل شوي دي. اولني پنځه کتابونه د تورات یا پنځه ګوني کتابونو په نوم یادیږي. د دې کتابونو محتویات د حضرت

موسیٰ او نورو هغو کسانو له خوا د پخواني مدارکو څخه راټول شوی چې خدای هغوی ته هدایت کړي ؤ. اول کتاب پیدائښت نومیږي چې د دنیا د منځ ته راتلو په باره کې څرګندوني کوي.
د حضرت آدم او بی بی حوا او د حضرت نوح (ع) د طوفان په باره کې خبري کوي. همدارنګه مونږ ته وائی چې څرنګه حضرت ابراهیم د پاک الله د فرمان سره سم ۲۰۰۰ دوه زره کاله پخوا له میلاد نه خپل وطن (عراق) پریښود او فلسطین ته یعنی هغه ځای ته چې پاک خدای دۀ ته وعده ورکړی وه لاړ. همدارنګه دا کتاب د حضرت اسحاق او یعقوب د ژوند په باره کې څرګندوني کوي او حضرت یوسف قصه چې دی د خپلو ورونو له خوا د یو مرئی په شان خرڅ شو او وروسته د فرعون وزیر شو څرګندوني کوي.
تورات وائی چې پاک الله څنګه حضرت موسیٰ ته قدرت ورکړ چې د اسرائیلوقوم کوم چې د حضرت یعقوب له دولسم پشت څخه دی رهبري او هدایت کړي. او څنګه ئې دوی تقریباً ۱۳۰۰ کاله مخکې له میلاد څخه د مصر څخه وویستل او فلسطین ته ئې راوستل. په دې کتابونو کې هغه ټول قوانین شته چې پاک خدای د سینا په غره کې د حضرت موسیٰ په واسطه اسرائیلو ته را ولیږل. پس له تورات څخه یو څه نور تاریخی کتابونه موجود دي چې وایی څنګه د اسرائیلو قوم د یوشع بن نون تر رهبری لاندې فلسطین فتح کوي او څرنګه الله تعالٰی سموئیل نبی یو زر کاله مخکې له میلاد نه رالیږي او حضرت داود د اسرائیلو پادشاهۍ ته رسوي. دا کتابونه مونږ ته وائی چې داود چې هم نبی او هم پادشاه ؤ څرنګه خپلو ټولو دښمنانو ته ماتې ورکړه او څرنګه د

دهٔ زوی حضرت سلیمان یوه لویه عبادت ګاه د خدای د عبادت لپاره په اورشلیم کې جوړه کړه. پس له سلیمان څخه مملکت په دوو برخو وویشل شو او د حضرت سلیمان زامنو د یهودا پر قبیلی په اورشلیم کې حکمرانی وکړه تر هغو چې اورشلیم په ۵۸۶ مخکې له میلاد نه د بابل پادشاه د سپاهیانو له خوا فتح شو. ډیر یهودیان بندیان شول، عراق او ایران ته یوړل شول او پس له پنځوسو کالو څخه کورش د ایران پادشاه بابل فتح کړ او یهودیانو ته ئې هدایت ورکړ چې بیرته اورشلیم ته راشی او د خدای تعالیٰ عبادتګاه چې ورانه شوی وه بیرته جوړه کړی. دوی دا کار وکړ مګر پس له ۵۸۶ کاله مخکې د میلاد نه نور د داؤد د نسل څخه په یهودو باندې چا پادشاهی ونه کړه، ځکه چې فلسطین د پردیو.. تر لاس لاندې ؤ.

د پخوانی عهد د کتابونو څخه وروسته د اشعارو کتابونه دي چې له هغې د جملی څخه د حضرت ایوب کتابونه، د داؤد زبور د سلیمان امثال، او داسې نور دي. پس له دې نه، هغه شپاړس کتابونو ته رسیږو چې د مختلفو انبیاؤ په قلم باندې لیکل شوي دي چې له هغې جملی څخه: حضرت اشعیا، ارمیا، حزقیال، دانیال، میکا، زکریا او ملاکی دي. دې انبیاؤ د ۸۰۰ او ۴۰۰ قبل المیلاد کلونو تر منځ په یهودیه کې ژوند کاوه. داسی معلومیږی چې (۴۳۰ ق- م) څخه تې ۲۲ میلادی پوری د ملاکی نبی څخه وروسته د حضرت یحییٰ تر راتلو پوری الله تعالیٰ بل پیغمبر نه دی رااستولی.

## (۲)- نوی عهد

هغه کتابونه چې نوی عهد جوړوی **۲۷** کتابونه دي. دا کتابونه په یونانی ژبه باندې د لسو لیکوالو په ذریعه د پنځوسو کالو په موده کې ولیکل شو. د ((پخوانی عهد)) اصطلاح اشاره ده د خدای هغې وعدی ته چې الله د حضرت موسیٰ په واسطه خپل قوم اسرائیلو ته را واستاوه (خروج **۲۴**: **۱**- **۸**).

نوی عهد د خدای هغه پیمان ته اشاره ده چې خپل نوی قوم یعنی هغه قوم چې په عیسیٰ ایمان راوړی را استول شوی دي (ارمیا **۳۱**: **۳۱**- **۳۴**، لوقا **۲۲**: **۲۰**).

د نوی عهد اولنی څلور کتابونه ((انجیل)) نومیږی په یونانی ژبه انجیل زیری ته وائی. دا څلور کتابونه د مختلفو کسانو په واسطه لیکل شوی دي. او هر یو ئې په خپل ذات کې د حضرت عیسیٰ د ژوندانه او تعلیمات و په باره کې ځانته کتاب دی. دا څلور کتابونه یو بل سره کوم فرق نه لری، بلکه د یو بل مکملول دي او لکه څلور عکسه دي چې له څلورو خواوؤ د یو سړی څخه اخیستل شوی وي. نوی عهد پنځم کتاب د رسولانو اعمال دی. دا کتاب د عیسوی دین انتشار او توسعه د دیرشو کالو په موده کې د اورشلیم نه تر روم پوري د حضرت عیسیٰ د مرګ څخه وروسته بیانوي.

دا کتاب په خاص توګه د حضرت عیسیٰ د رسولانو یعنی پطروس او پولوس په باره کې شرح ورکوي.

وروسته یووشت لیکونو ته رسیږو چې د پطروس، پولوس، او یوحنا په واسطه لیکل شوي دي. دا لیکونه بعضی عیسوی غړو ته د روم په بعضی ښارو کې او یا ځانګړی سړی ته لیکل شوي دي په لیکونو کې څرګند شوي دي چې عیسویان څه ډول ایمان باید ولری او څرنګه ژوند باید وکړی؟ آخرین کتاب چې مکاشفه بلل کیږی د یوحنا خوبونه بیانوی. دا کتاب ښیی چې څه جزاګانی د بې ایمانه خلکو انتظار کوي او همدارنګه د حضرت عیسیٰ وروستی بری او د پاک الله د دائیمی ملکوت، مشرتوب، جلال او لوړوالی بیانوي.

که څه هم یهودیان او هم عیسویان پخواني عهد مني او احترام ورته لری ولی یهودیان نوي عهد د خدای له خوا نه ګڼي.

شاید اوس وغواړی چې وپوهیږي چې د عیسویانو مقصد له مقدس کتاب څخه څه شي دی؟ یا هغه کتاب چې خدای تعالیٰ له خپله خوا رالیږلی دی، څه دی؟ مخکې له هر شي نه باید ووایو چې مونږ عیسویان عقیده نه لرو چې دا کتاب خدای تعالیٰ لیکونکو ته ویلی دی ځکه چې یو رئیس خپل منشی ته یو لیک وائی. ځکه هغه وخت چې مونږ دغه کتابونه لولو، نو وینو چې دا کتابونه د لیک او سبق له مخې یو رنګ نه دي لیکل شوی، لکه چې حضرت داؤد د حضرت سلیمان غوندې ونه لیکه او د پولوس لیکنه د یوحنا سره فرق لری ځکه هر یو ځانته شخصیت او د دوي لیکنی فرق لری. په دې صورت کې امکان لری دا سوال پیدا شي چې دا کتابونه به هم لکه د نورو کتابونو غوندې چې د خلکو په واسطه لیکل شوي دي غلطی ولری؟ په هیڅ ډول داسی نه ده. که

څۀ هم دا کتابونه د اشخاصو د خوا ليکل شوي ولی عيسويان هغه د خدای تعالٰی کتابونه بولی او عقيده لري چې الله تعالٰی دا کسان د خپل روح په واسطه داسی هدايت کړی دي چې دوی په خپلو ليکنو کې هيڅ غلطی نه لری. مونږ عقيده لرو چې پاک خدای الٰهی حقايق او خپله مقدسه اراده انبياؤ ته وپيژنده، تر څو چې هغوې وکولی شي د هغه پيغام د خلکو غوږ ته ورسوي. همدارنګه خدای تعالٰی خپل حقيقت هغه چا ته چې ده وغوښتل، وپيژنده تر څو چې دا کتاب وليکی. هر يو ليکونکی په خپل قلم او له خپلو انساني خصوصياتو سره، سره د پاک خدای تر امر او لار ښوونی لاندې د پاک خدای کلام مونږ ته وليکه. په مقدس انجيل کې داسی لولو ((څکه چې د نبيانو کلام هيڅ خبره هم د بنی آدمو د خواهش په مطابق کله هم نۀ ده شوی، بلکه بنی آدمو د روح القدس د اثر په وجه د خدای د طرفه خبري کولي)). (دويم پطروس ۱: ۲۱).

هغوی د خدای پيغام بيان کړ او همدارنګه هغه ئې وليکه. مقدس کتاب د خدای تعالٰی ليکل شوي کلام دی.

په دې توګه مونږ عيسويان عقيده لرو چې مقدس کتاب د دنيا له نورو کتابونو سره فرق لری. مونږ عقيده لرو چې هغه څه چې بايد د خدای تعالٰی په باره کې وپوهيږو په دې کتاب کې پيدا کيږی او د دې کتاب په وسيله خپله دنده د خدای تعالٰی او خپلو همنوعانو په باره کې مونډلې شو ولی چې دا کتاب د حضرت عيسیٰ مسيح خلاصونکی په برخه کې خبري کوي چې يوائينی

ځوک دی چې ګناهکاران بدلوی شي او دنیا پرې هسی شان بدل کړي لکه چې خدای تعالیٰ ئې غواړی.
اوس څو نقطې تشریح کوو:
۱- اوله نقطه دا ده چې که څه هم په ټوله دنیا کې بیلی بیلی فرقی موجودې دي، مګر دوی ټول د دې ۶۶ کتابونو په صحیح توب او حقانیت ایمان او عقیده لری او دا کتابونه د ژوند د لاری او اعتقاداتو د لار ښوونی لپاره ځانګړی او منحصر په فرد کتابونه ګڼی.
۲- عیسویان په دې عقیده نه دي چې وروستنی کتابونو مخکنی کتابونه منسوخ کړي دي او یا ئې د هغو ځای نیولی دی ځکه مونږ عقیده نه لرو چې انجیل د تورات ځای نیولی دی. حضرت عیسیٰ ویلی دي: ((دا خیال مه کوئ چې ګني زۀ د دې د پاره راغلی یم چې شریعت او د نبیانو کتابونه منسوخ کړم. زه منسوخ کولو ته نۀ یم راغلي بلکه پوره کولو ته راغلی یم)) (متی ۵: ۱۷).
هم هغسی هغه کتابونه چې په لسم ټولګی کې ویل کیږی د لاندینو ټولګیو کتابونه نه باطلوی، بلکه هغه پوره کوي. هم هغسی وروستني کتابونه چې د خدای تعالیٰ په واسطه رالیږل شوي دي مخکنی کتابونه نه باطلوی، بلکه د پاک خدای د پیژندلو په لار کې انسان ته پوره پوهه ورکوي، نو مونږ عیسویان دا ټول کتابونه وایو، تر هغه چې ټول تعلیمات چې الله تعالیٰ غواړی مونږ وپوهیږو او هغه په ښه توګه مونږ زده کړو. که څوک کوم کتاب ولیکي او د پاک خدای د مقدس کتاب سره سم نه

وی، نو مونږ ته څرګنده ده چې داسې کتاب د خدای له خوا نه دی ځکه چې خدای تعالی د خپل کلام پر خلاف څه نه وائی.

۳- که چا تاسي ته ویلي وی چې د عیسویانو کتاب اصلي نه دی او اعتبار نه لری، دا زۀ په ډاډه سره ویلي شم چې دا تهمت دی او درست نه دی او هیڅ اساس نه لري. عیسویانو باندې خپل مقدس کتاب ګران او هیڅ چا ته اجازه نه ورکوي چې هغه له منځه یوسي او یا هغه بدل کړی. برسیره پر دې د مقدس کتاب خطی نسخی هم شته چې په یونانی ژبه باندې لیکل شوي دي او د هغوی له عمره څخه ۱۷۰۰ کاله تیر شوي دي او د مقدس کتاب اوسني ترجمه د همدغو نسخو څخه کیږی. لوی خدای خپل کلام ټول بشر ته رالیږلی دی. عیسویانو زیات کوشش کړی دی چې دا مقدس کتاب د دنیا په ټولو ژبو باندې ئې ترجمه کړي تر هغه چې هر څوک هغه په خپله مورنی ژبه ووایی. د مقدس کتاب یوه برخه یا ټول د دنیا په ۱۷۰۰ ژبو باندې ترجمه او نشر شوی دی په ټولو ژبو کې د پاک خدای پیغام یو دی. آیا تاسی پوهیږئ چې د خدای کتاب هر کال نسبت نورو کتابو ته په دنیا کې په ډیرو خلکو باندې ویشل کیږی. دا په ډاډ ویلی شم که خلک په دې عقیده وي چې دا کتاب حق نه دی، نو دومره غوښتوونکی به ئې نه درلودل دا له امکان څخه لری ده چې خدای تعالی خپل کلام د بشر د رهنمائی لپاره ولیږي او بیا اجازه ورکړي چې دا کتاب بدل شي تر څو بنده ګان ئې بې لاری شي. خیر په هر صورت لوی خدای خپل مقدس کتاب د زرګونو کالو

په تیریدو سره ساتلی دي او پس له دې به ئې هم وساتي، له دې وجه نه دا کتاب د اعتماد وړ دی.

۴- د ۶۶ کتابو په باره کې د توجه وړ او عجیب کار یو دا دی چې دا کتابونه که څه هم په مختلفو دورو کې د بیلو بیلو لیکوالو له خوا په ۱۵۰۰ کاله کې لیکل شوی دي د ټولو پیغام یو دی. دا ټول کتابونه وائی چې خدای تعالی څوک دی، له بشر څخه غواړی او د ګناهګار بشر لپاره ئې څه کړی دي. له دې څخه معلومیږی چې د دې کتابونو اصلي لیکونکی خدای تعالی دی، نه بشر.

۵- د توجه وړ بله نقطه د مقدس کتاب په باره کې دا ده چې پوهیدل ئې ډیر آسانه دي. که څه هم دا کتابونه په لرغونو ژبو باندې لیکل شوي دي ولی په اوسنی هره ژبه باندې ترجمه کیدلی شي او هر څوک چې لږ په لوست وپوهیږی، دی لولی او ګټه ترې اخیستلی شي ما په څو څو واره آوریدلی دي چې د دنیا په ډیرو لرو ځایونو کې ښځی او نر بې له کوم ښوونکی نه د مقدس کتاب یوه برخه لوستی ده او لوی خدای ئې پیژندلی دی او له خپلو ګناهونو څخه خلاص شوي دي. که څه هم لویو استاذانو د خدای تعالی د کلام د پیژندلو په باره کې او د روحاني تکامل په باره کې، ښه کتابونه لیکلي دي او د مسیحی جماعتونو د شورا اعتقاد نامی ئې هم لیکلي دي چې حقیقت او مستقیمه لاره ایماندارانو ته ښیئ. که څوک مقدس کتاب په ځیر ولولي وبه وینی چې دا کتاب خپل مطالب خپله روښانه کوي.

مقدس کتاب هغه څه چې د لوی خدای د پیژندلو لپاره مونږ ته ضروری دي زده کوي او کافی معلومات زمونږ د ساتنی او زمونږ د وظیفی په باب د خالق او د خلکو په برخه کې زمونږ په اختیار کې ږدی. له دې کبله هر عیسوي د دې ویاړ او وظیفی خاوند دی چې مقدس کتاب ولولي او د نورو عیسویانو په مرسته او د روح القدس په رهنمائي هغه خپل ځان ته تغیر ورکړي. ډیر عیسویان دا عادت لری چې هره ورځ د مقدس کتاب یوه برخه لولي او د هغه د تعلیماتو په باره کې ځان سره فکر کوي.

تاسو به تعجب کړي وي چې ولی ما تر اوسه نه دي ویلی چې انجیل د حضرت عیسیٰ په واسطه لیکل شوي دی او یا دا چې د پاک خدای په واسطه حضرت عیسیٰ مسیح ته ورکړ شوي دی. تر هغه ځایه چې پوهیږم حضرت عیسیٰ هیڅ کوم کتاب نه دی لیکلی او هم هیڅ کتاب ئې په لاس کې نه وه چې د خدای تعالیٰ د خوا هغه ته ورکړ شوی وی. دا ټکی به وروسته څرګند کړم چې حضرت عیسیٰ د لوی خدای ژوندی کلام او لوی خدای د هغه د شخصیت، عمل، او څرګندونو په ذریعه خپله خلکو سره خبري وکړي. هغه د خدای تعالیٰ پوره تجلیٰ اومظهر ؤ. له دې کبله لوی خدای متی، یوحنا، پولوس، او نورو شاګردانو ته هدایت ورکړ چې دا کتاب چې د حضرت عیسیٰ تصویر دی مونږ ته ولیکی. دا کتاب مونږ سره مرسته کوي چې د حضرت عیسیٰ څیره وګورو او د پاک خدای پیغام چې د هغه په وسیله مونږ ته رسیږی واورو.

ګرانه وروره! له هغه څه نه مې چې لیکلي دي په ښه توګه ګورئ چې مقدس کتاب ډیر اهمیت لری او په هر چا باندې فرض او لازم

دي چې هغه په ځير سره ولولي او يا د هغه مطالبو ته غوږ ونيسی، ولې چې يوائی له دې کتاب نه د خلاصون لاره پيدا کولي شو. اميد لرم چې د ټولو نه اول يو ټوک نوی عهد پيدا کړي او هغه ولولئ او پس له هغه پخوانی عهد ته رجوع وکړئ. ولی چې د نوي عهد له ويلو نه پس د پخوانی عهد په مقصد باندې به ښه وپوهيږی. اميد لرم چې لوی خدای د خپل مقدس کلام د هرې ورقی په ويلو تاسو سره خبري وکړي.

## ۲- عیسیٰ مسیح څرنګه وزیږیده او څه ئې وکړل؟

ګرانه وروره! اوس د حضرت عیسیٰ د ایمان د شرحي ډیر مهم ځای ته رسیږو او هغه عبارت دی له دې نه چې حضرت عیسیٰ څوک دی؟ او د هغه رابطه د الله تعالیٰ او انسان سره څه شی ده. اول به د هغه د ژوند یو لنډه شرحه چې د مخکی په مخ په څلورو انجیلو کې پیدا کیږی بیان کړو.

یوه ورځ جبرائیل علیه سلام یوې پیغلی انجلۍ ته چې مریم نومیده خبر ورکړو چې د یو زوی خاونده به شی چې د هغه نوم باید عیسیٰ کیږدي. هغه به د حضرت اعلیٰ زوی ونومیږی او د هغه پادشاهی به د تل لپاره وی (لوقا : ۲۲- ۳۸).

دا پیښه د اشعیا نبی د پیشګوئی نتیجه وه چې دۀ اوه سوه کاله مخکې کړی وه: ((ګورئ، یوه پیغله به امیدواره شی او زوی به ئې وشی او د هغۀ نوم په عمانوایل کیږدی)) (متی ۱: ۲۳ اشعیا ۷: ۱۴). پس له هغه نه حضرت عیسیٰ په یو ښار کې اورشلیم ته نژدې چې بیت الحم نومیده او حضرت داؤد زر کاله پخوا په هغه ځای کې دنیا ته راغلی ؤ، دنیا ته راغی. د حضرت عیسیٰ دنیا ته راتګ په بیت الحم کې د میکا نبی په واسطه پیشګوئی شوی وه. چې له اوه سوه کالو څخه زیات مخکې د حضرت عیسیٰ له میلاد څخه ژوند کاوه ((ای د یهودیه د مځکې بیت الحم ښارئی! تۀ د یهودیه په لویو ښارونو کې هیڅ کله هم ور کوتی نۀ یی، ځکه چې ستا نه به هغه سردار راوزی چې زما د خلقو اسرائیلو شپون به وی)) (متی ۲: ۲ میکا ۵: ۲).

د حضرت عیسیٰ د تولد په وخت کې یوې ملائیکې دا پیښه د بیت الحم نژدې شپنو ته څرګنده کړه او داسې ئې وویل: «ویرېږئ مه! ما تاسو ته یو زیری راوړی دی چې د خلقو د پاره به یوه لویه خوشحالي وی، چې نن د داؤد په ښار کې ستاسو خلاصوونکی پیدا شوی دی چې هغه مسیح مالک دی!» (لوقا ۲: ۱۰-۱۱) مریم چې د یوسف نکاح ښکلې ښځه شوه او یوسف د حضرت عیسیٰ سر پرستی په غاړه واخیسته. حضرت عیسیٰ هم د ځوانۍ په وخت کې د ناصرت په ښار کې د ترکاڼۍ په کار بوخت ؤ. تر دیرش کلنۍ پورې ئې هیڅ رقم تعلیم ونه کړ او هیڅ رقم معجزه ئې ونه ښوده او خلک نه پوهیدل چې هغه خلاصونکی عیسیٰ دی چې دوی ئې په انتظار کې دي. حضرت عیسیٰ کله چې دیرش کلن شو د هغه خدمت لپاره چې دوی دې دنیا ته راغلی ؤ ملا وتړله. له دې کبله ئې د ناصرت ښار پریښود او حضرت یحییٰ ته ورغی. په هغه وخت کې حضرت یحییٰ د لوی خدای پیغام هغه خلکو چې له ده چاپیره اوسیدل او هغوې ئې توبه کولو ته رابلل او هغه چا چې توبه ویستله د اردن په رود کې غوپه کاوه. که څه هم حضرت عیسیٰ په ټول ژوند کې کومه خطاء نه وه کړې خو له حضرت یحییٰ څخه ئې وغوښتل چې هغه هم غوپه کړی او یحییٰ هم همدا کار وکړ. هغه وخت چې حضرت عیسیٰ له اوبو څخه راووت روح القدس د یوې کوترې په شان له آسمان څخه راغی او پر هغه کښیناست او د هغه پاک آواز حضرت عیسیٰ او حضرت یحییٰ دواړو واوریده چې ویل ئې: «دا زما خوږ زوی دی چې په

ما ګران دی او زه ترې رضا یم)) (متی ۳: ۱۷). (وروسته به د ((زوی)) د ویلو معنیٰ تا ته تشریح کړم).
پس له هغه نه حضرت عیسیٰ بیدیا ته لاړ او هلته ئې څلویښت ورځی روژه ونیوله او دعا ئې وکړه. په دغه وخت کې شیطان کوشش وکړ چې دی تیر باسي او الله تعالیٰ نه ئې واړوي مګر کامیاب نه شو (متی ۴: ۱-۱۱).
حضرت عیسیٰ له دې نه وروسته پر شیطان باندې بریالي شو بیرته یحییٰ ته ورغی. هغه وخت چې حضرت یحییٰ حضرت عیسیٰ ولید، خپلو شاګردانو ته ئې وویل: ((وګورئ! د خدای ګډوری چې د دنیا ګناه په ځان وړی! ... ما دا په خپله ولیدل او زهٔ په دې ګواهی کوم چې دا د خدای زوی دی)) (یوحنا ۱: ۲۹، ۳۴).
د حضرت یحییٰ مقصد له دې نه چې حضرت عیسیٰ د خدای وری بولي دا دی چې دی به د بشر د ګناهونو لپاره قربانی ورکړی. پس له دې نه حضرت عیسیٰ د شاګردانو په ټاکنه پیل وکړ او د هغوی له منځه څخه یې دولس کسان د رسولانو په توګه وټاکل. دا خلک د لوی تحصیلاتو والا خلک نه وه. پطروس او یوحنا ماهیګران ؤ. او متی به هم له خلکو څخه مالیه اخیسته. مګر هغوی وپوهیدل چې حضرت عیسیٰ هم هغه خلاصونکی عیسیٰ دی، له همدې کبله ئې خپل کارونه پریښودل او بې له دې نه چې د پیسو او شتمنو په غم کې وي د حضرت عیسیٰ څخه ئې د دری کالو لپاره پیروی وکړه او هر چیرته پیاده تلل. په دغه وخت کې حضرت عیسیٰ دوی د هغه کار لپاره چې دوی باید وروسته د دهٔ له تګ څخه، آسمان ته کړی وی، تیار کړل او دا کار ئې پیل

کړ. پس له هغه نه حضرت عیسیٰ لکه حضرت یحییٰ په تبلیغ باندې پیل وکړ او وی ویل: ((وخت پوره شو، د خدای بادشاهی په تاسو بره کیدونکی ده. توبه ګار شئ او په زیری ایمان راؤړئ)) (مرقوس ۱: ۱۵). حضرت عیسیٰ د خدای تعالیٰ کلام خلکو ته په عبادت خانو کې یا د دوی په کورونو کې او د ګلیل د رود پر غاړو کې او هغه ځایو کې چې د خلکو پر ګني غونډی شوي وي بیانوه. هغه چا چې د دهٔ خبري اوریدلي، د دهٔ د حکمت او قدرت نه چې په خبرو کولو کې یې درلوده حیران کیدل، ځکه چې هغه د پیغمبرانو په شان خبري نه کولي بلکه د خدای تعالیٰ په شان ئې خبري کولي. ټولو انبیاؤ ویلی ؤ: واورئ چې خدای تعالیٰ تاسو ته وائی ولی هغه وخت چې حضرت عیسیٰ خبري کولی خلکو ته ئې ویل: ((واورئ هغه څه چې زهٔ درته وایم.))

حضرت عیسیٰ سمدستی د ناروغانو په روغولو پیل وکړ او هغوی ئې د خپل کلام او یا لاس ایښودلو په واسطه روغول. عیسیٰ ته یو جُزامی راغی، د هغهٔ په پښو پریوتو، خواست ئې ترې وکړو چې ((که تهٔ وغواړی، نو ما پاکولی شی.)) د عیسیٰ زړهٔ په هغهٔ وسوزیدلو، خپل لاس ئې وراوږد کړلو، اؤ وئې وئیل چې ((بې شکه زه غواړم، پاک شه)) خپل لاسونه یې د جزامی سړی پر مخ کیښودل او سړی روغ شو (مرقوس ۱: ۴۰-۴۲). ډیر خلک چې د ناپاکو ارواحو څخه په عذاب ؤو دهٔ ته راغلل او حضرت عیسیٰ د خپل کلام په واسطه ناپاک روحونه له هغوی څخه راویستل هغه چې ړانده ؤ په سترګو ئې لاس کیښود او هغوی سمدستی بینا شول. هغه څو تنو مړو ته ژوند ورکړ. طبیعتاً ډیر

خلک هغه پسی روان شول او حضرت عیسیٰ د خلکو په شفا بخښلو او تعلیم ورکولو کې دومره مشغول ؤ چې د ډوډۍ خوړلو وخت ئې نه درلوده. هغه خپل شخصی اړتیاوی هیري کړي وي، ولی چې دوی تل د نورو د محبت په فکر کې ؤ. د خپل شخصی ګټی لپاره یو وار هم معجزه ونه کړه او هیڅ کله ئې خپل قدرت د خلکو د تعجب کولو لپاره په کار وانه چاوه. د دۀ ټولي معجزی کارونه د ناروغو خلکو د هوسائی او خلاصون لپاره ؤ تر هغه چې په دې توګه د خدای تعالی محبت هغوی ته څرګند کړي. یوه ورځ کله چې ئې فقیر او محتاج خلک په خپل چاپیر کې ولیدل، هغوی ئې خپل ځان ته په ډیر محبت او ارمتیا راوغوښتل او داسی ئې وویل:

«ای تاسو چې ټول خواری کوئ او پنډ مو دوند دی، ماله راشئ او زه به آرام درکړم» (متی ۱۱: ۲۸). له هغه ټولو خلکو نه ئې چې دۀ ته ورغلل هیڅوک نا امیده پرینښودل یو واری څلورو کسو یو فلج سړی حضرت عیسیٰ ته راوست او د دۀ تر مخ ئې واچاؤ. حضرت عیسیٰ پوهیدو چې دا سړی علاوه پر جسمی شفاء، روحی شفاء ته هم محتاج دی. هغه ته ئې وویل: «زما زویه! ستا ګناهونه معاف شول.» بعضی مذهبي ښوونکی چې هلته ؤ ځان سره ئې وویل «دا سړی داسی خبري ولی کوي؟ دا خو کفر دی! خدای نه بغیر هم لا څوک د چا ګناهونه بخښلی شی څه؟» سمدستی عیسیٰ پوهه شو چې دوی په زړۀ کې څه خیال کوي او هغوئ ته ئې وویل چې «تاسو داسې خیالونه په زړۀ کې ولی راولئ؟ آیا دا خبره آسانه ده چې زه دې شل سړی ته ووایم چې ستا

ګناهونه معاف شول، او که دا ووایم چې پاڅه خپل کټ واخله او روان شه؟ خو ستاسو د پوهې لپاره چې ابن آدم هم په مځکه باندې د ګناهونو د معاف کولو اختیار لري» هغهٔ هغه شل سړي ته مخ راواړولو او ورته ئې وویل، «زه تا ته وایم، پاڅه! خپل کټ واخله او کور ته لاړ شه.» او هغه پاڅیدو، سمدستي ئې خپل کټ واخستو او د ټولو په مخ کې روان شو. دغه شان هغه ټول حیران پاتې شول او د خدای ثنا ئې وویله. دوی وویل چې «داسې کار خو مونږ چیري هم نهٔ وو لیدلي» (مرقوس ۲: ۱-۱۳).

پس له دې نه د یهودو مشران د حضرت عیسیٰ په مخالفت راپورته شول. ولې چې دوی د حضرت عیسیٰ محبوبیت د خلکو په منځ کې نه شو زغملی، هغو به ویل چې له ګناه ګارانو سره ناسته ولاړه لري او غواړي چې دوي ته نجات ورکړي د سبت (خالي) په ورځې باندې چې د یهودیانو مقدسه ورځ ده ناروغانو ته شفا ورکوي. د هغو نفرت دومره زیات شو چې فیصله ئې وکړه چې حضرت عیسیٰ په قتل ورسوي (مرقوس ۲: ۱۵، ۳: ۲).

عیسیٰ له دې موضوع نه خبر ؤ او په هغه قدرت چې ده مړي ژوندي کول، دهٔ کولي شو چې خپل شریر دښمنان هم ووژني، مګر دا کار ئې ونه کړ. هغه خپل شاګردانو ته داسې تعلیم ورکاوه چې له خپلو دښمنانو سره محبت وکړي او هغوی ته دعا وکړئ. هغه رفتار چې دهٔ د خپلو دښمنانو په مقابل کې درلود، د دهٔ شاګردانو ته لوی مثال ؤ.

په هغه زمانه کې د یهودو قوم آزاد نه ؤ او رومیانو پر هغوی حکومت کاوه. یهودیانو زیاته ارزو درلوده چې د رومیانو د قید

څخه ووځی. هغه وخت چې یهودیانو ولیدل چې حضرت عیسیٰ وکولی شول چې په پنځو ډوډیو او دوه کبانو باندې په بیدیا کې تر پنځو زرو زیاتو کسانو ته ډوډی ورکړی، ډیر زیار یې وویست چې دوي مجبورکړي چې د دوي پادشاه شي (یوحنا ۶: ۱-۱۵).
هغوی یقین درلود که حضرت عیسیٰ خپلو سپاهیانو ته امر وکړي هیڅوک به د هغوی مخه ونه نیسی. ولی حضرت عیسیٰ له دنیاوی پادشاهی څخه ډډه وکړه. ولی چې د هغه سلطنت روحاني او معنوي ؤ. هغه غوښتل چې د خلکو پر زړونو باندې حکومت وکړي، نه پر هغه تخت باندې چې په اورشلیم کې ؤ. هغه وخت چې یهودیان پوه شول چې دی د خپلو مقاصدو لپاره استمالوي نشی، ډیر یهودیان د دهٔ په مخالفت او دښمني باندې راپورته شول. حضرت عیسیٰ د خلکو د راضی کولو نه لری ګرځیده او د الله تعالیٰ رضاء به ئې غوښتله.
نژدې پس له دوه نیم کالو د تعمید څخه کله چې د یهودو مشرانو دښمنی له دهٔ سره سخته شوې وه، یوه ورځ حضرت عیسیٰ له خپلو شاګردانو څخه پوښتنه وکړه: ((خلق څه وائی چې ابن آدم څوک دی؟)) هغوئ جواب ورکړو، ((ځینی وائی چې بپتسمه ورکوونکی یحییٰ، ځینی الیاس، ځینی یرمیا او یا د نبیانو نه بل څوک.)) هغهٔ ورته وویل چې ((تاسو څه وایئ، چې زه څوک یم؟)) شمعون پطروس جواب ور کړو، ((تهٔ د ژوندی خدای زوی مسیح یئ.)) بیا عیسیٰ وویل ((ای د یوحنا زویه شمعونه! تهٔ بې شکه بختور یی، چې معنیٰ ئې ګټ دی، چې زه به خپل جماعت په دې ګټ آبادوم، او مرګ به په دې هیڅ کله غالبیدی نهٔ شی.)) وروسته

ئې خپلو رسولانو ته وویل چې لاړم دی اورشلیم ته ولاړ شئ او د مذهبې حکم په واسطه په مرګ محکوم شئ او په صلیب باندې ځوړند شي او په دریمه ورځ ژوندی شي. د دهٔ شاګردانو چې له دهٔ سره مینه درلوده غمجن شول او پطروس حضرت عیسیٰ ته وویل: ((خدای دې نهٔ کړی مالکه! په تا دې داسې هیڅ کله هم ونهٔ شی.)) حضرت عیسیٰ وویل چې دا خبره شیطاني ده ګوره چې بیا ئې ونه کړی ولی چې حضرت عیسیٰ پوهیده چې دا د پاک الله اراده ده چې دی د ګناهګارانو د ګناهونو لپاره په صلیب باندې ځان حق ته وسپاری او هغه څوک چې دی له دې لاری څخه منع کوي، د شیطان د لاس آله ده. حضرت عیسیٰ خپلو شاګردانو ته وویل چې دوي هم باید د خپل صلیب د وړلو لپاره تیار وی او د خپل ځان د قربانولو نه، د دهٔ په لاره کې ډډه ونه کړي (متی ۱۲: ۱۳-۲۲). وروسته له دې چې شاګردانو واوریدل چې د دوي استاد باید مړ شي او دوي هم د دهٔ لپاره ډیر رنځونه وزغمی، بې شکه دوي ته ډیره سخته وه چې بیا هم د دهٔ پیروي وکړی. هغوې خپل استاد خوشی نه کړ او شپږ میاشتی پس له هغه سره اورشلیم ته یعنی هغه ځای ته چې د دوي استاد ډیر رنځونه باید زغملی وی او خپل ځان ئې قربان کړی وی ولاړل. د پسرلی موسم په اورشلیم کې پیل شو او ډیر یهودیان له لری او نژدې څخه اورشلیم ته راتلل د دې لپاره چې د خپل کلنی اختر په جشن کې برخه واخلي. دا جشن دوي په هغه یاد کولو چې څرنګه د اسرائیلو قوم وکولي شو چې د حضرت موسیٰ په لارښودنه د مصر د اسارت څخه خلاص شی. حضرت عیسیٰ او د دهٔ شاګردان هم د دې جشن د لیدو لپاره

هلته حاضر ۀ. د هغه هفتی پیښې چې د حضرت عیسیٰ د ژوند وروستۍ هفته وه، په څلور واړه انجیلو کې په بشپړه توګه بیان شوي دي. په دې ځای کې مونږ یوه برخه د هغه تاسو ته بیانؤو. د یوې یکشنبی په ورځی کله چې په یوه خره سپور ۀ حضرت عیسیٰ اورشلیم ته راغې. ذکریا نبی داسې پیشګوئې کړی وه: ((د صیون لُور ته ووایئ چې ګوره! ستا بادشاه در روان دی، څوک چې حلیم دی، په خرۀ سور، بلکه یو بار وړُونکی کُوچی باندې سور)) (متی ۲۱: ۵ ذکریا ۹: ۹).

پس د هغه نه حضرت عیسیٰ د عبادتګاه منځ ته راننوت او هغه څوک چې دا پاک ځای ئې د خرڅولو او اخیستلو په واسطه پلیت کړی ۀ، له هغه ځای څخه وویستل حضرت عیسیٰ مذهبي مشران د هغوی د ریاکاری او بې ایمانی له کبله محکوم کړل او همدارنګه پیشګوئی وکړه چې د اورشلیم عبادتګاه به د دوي د ګناهونو له کبله د دښمنانو له خوا ورانه شي. او هغه د دروغجنو انبیاؤ راتګ او د خلکو د ګمراه کولو ته اشاره وکړه او خلکو ته ئې وویل چې له دې ډول انبیاؤ نه پرهیز وکړي. هغه وویل چې له آسمان څخه به بیرته مځکې ته د لوی قدرت سره راشي. او د ټولو قومونو پوښتنه به وکړی، څه خلک به ومنل شي او د ټولو قومونو پوښتنه به وکړی، څه خلک به ومنل شي او د جنت لور ته به روان شي او څه به د تل لپاره په دوزخ کې وي.

د همدغی هفتی د پنجشنبی په شپه چې عیسویان ورته مقدسه هفته وائی، حضرت عیسیٰ د فسح اختر د خپلو دولسو شاګردانو سره ولمانځه. په دې وخت کې حضرت عیسیٰ یوه ډوډۍ

واخیستله ټوټې ټوټې ئې کړه او خپلو شاګردانو په منځ کې ئې وویشله. «دا زما بدن دی چې ستاسو لپاره دی. زما په یادګارئ کې هم دغه شان کوئ.» دغه شان هغۀ د خوراک نه پس پیاله واخسته او وئې وئیل چې «دا پیاله زما په وینه کې نوی لوظ دی هر کله چې ئې څښئ نو زما په یادګارئ کې دغسې کوئ» (اول کورنتیان ۱۱: ۲۳-۲۶). په دې توګه حضرت عیسیٰ خپلو شاګردانو ته ووئیل چې د دۀ د مړینې سره به نوی عهد منځ ته راشي. مخکې له دې نه چې دوي له خپل کوټې نه ووځي، حضرت عیسیٰ خپل وروستنی تعلیم دوی ته ورکړ او هغوی ته ئې ووئیل: دوی وظیفه لري چې له یو بل سره محبت وکړي او بیا ئې شاګردانو ته ووئیل چې دوي باید هغه ټول کړاونه چې په دې لاره کې وینی وزغمی. برسیره پر دې له هغو سره ئې وعده وکړه چې آسمان ته د تلو څخه وروسته به روح القدس راولیږی، چې له دوي سره مرسته وکړی.

هغه وخت چې نیمه شپه شوی وه، حضرت عیسیٰ خپل شاګردان یو باغ ته بوتلل تر هغه چې په دعا کولو خپل ځان د مړینې د پاره تیار کړي. هغه دعا چې حضرت عیسیٰ خپل آسمانی پلار ته وکړه داسې وه: «ای پلاره! که دا چیری ستا رضا وی نو دا پیاله له ما نه لرې کړه خو زما نه، ستا رضا دې پوره شی.»

هغه وخت چې حضرت عیسیٰ په دعا کولو بوخت ؤ، څو کسه مسلح د یهودا په لارښودنه (چې د دۀ د دولسو شاګردانو څخه یو شاګرد ؤ او دۀ سره ئې خیانت وکړ) باغ ته راننوتل. د شپې په تیاره کې یهودا حضرت عیسیٰ ته نژدې شو او هغه ئې ونیوه او ښکل

ئې کړ. حضرت عیسیٰ بې له کوم مقاومت نه خپل ځان تسلیم کړ. هغه وخت چې پطروس خپله توره راښکله او غوښتل ئې چې د استاد څخه دفاع وکړي حضرت عیسیٰ هغه منع کړ او یو تن له دښمنانو ته ئې چې پطروس هغه زخمی کړی ؤ شفاء ورکړه (لوقا ۲۲: ۳۹-۵۱). پس له هغه نه دوي حضرت عیسیٰ داسی یو ځای ته بوت، چې ټول مذهبي مشران هلته راټول شوي ؤ او غوښتل ئې چې حضرت عیسیٰ په یوه بهانه مړ کړی، خو بریالی نه شول. پس له هغه د دوي مشر له حضرت عیسیٰ څخه پوښتنه وکړه: ((آیا تهٔ د تبارک الله زوی مسیح ئې څه؟)) (مرقوس ۱۴: ۲۱-۲۴).

په هغه وخت کې د یهودو حاکمانو نه شو کولی چې بې له روم د دولت د اجازی څخه څوک اعدام کړی. له همدې کبله ئې حضرت عیسیٰ د جمعی په ورځ سهار وختی د پیلاطوس قصر ته یوړ او پیلاطوس ته ئې وویل چې حضرت عیسیٰ د روم د دښمنانو څخه دی او غواړی چې ځان پادشاه کړی، نو له همدې امله پیلاطوس د حضرت عیسیٰ نه پوښتنه وکړه، او پوه شو چې دا خبره دروغ ده او په همدې دلیل ئې وغوښتل چې دی آزاد کړي. ولی د یهودو حاکمانو یوه ټولنه جوړه کړه چې تر هغه د حضرت عیسیٰ اعدام وغواړی پیلاطوس له دې ډاریده چې کومه الهٔولہ جوړه نه شي، نو د دوي غوښتونو ته ئې غاړه کیښوده. او امر ئې وکړ چې حضرت عیسیٰ دې د صلیب پر مخ مړ شي. بې له ځنډه حضرت عیسیٰ د اورشلیم د ښار نه بهر واستول شو او هلته په صلیب باندې ځوړند شو. هغه وخت چې حضرت عیسیٰ په صلیب باندې ځوړندیده، هغه چا ته ئې چې دا کار ئې کاوه داسی دعا وکړه:

((پلاره! دوي معاف کړه! ځکه چې هغوئ نۀ پوهيږی چې څه کوی)) (لوقا ۲۳: ۳۴). څه حيرانوونکی مينه ده، دا به څوک وی چې د هغه چا بخښنه له خدای څخه وغواړی چې د دۀ په لاسو او پښو ميخونه ټک وهی.

عيسیٰ کولي شول چې له خپل آسمانی پلار څخه غوښتلی وی چې له دې رنځ څخه دی خلاص کړی وی او آسمان ته ئې بوتلی وی، ولی دا غوښتنه ئې ونه کړه. هغه ښه پوهيده چې د خدای تعالیٰ اراده دا وه چې دی بايد په رنځ او کړاو سره مړ شي او د ګناهګارانو لپاره قربانی شي. او په همدې دليل ئې د خپل آسمانی پلار حکم ومانه او د شپږو ساعتو په شاه وخوا کې دۀ رنځ او کړاو تير کړ، بيا د ماسپښين په دريو بجو کې دۀ داسي وويل: ((ای پلاره! زه خپل روح ستا لاس کې سپارم)) (لوقا ۲۳: ۴۶). پس له دې خبري نه دی مړ شو. هغه وخت يو سپاهی د عيسیٰ څنګ ته ودريده او افسر پيلاطوس ته ئې خبر ورکړ چې حضرت عيسیٰ مړ دی.

د يهودو دوه نفره مشران چې په حضرت عيسیٰ باندې ايمان راوړی ؤ پيلاطوس ته ولاړل او د حضرت عيسیٰ د جنازی غوښتنه ترې وکړه او جسد ئې دوی ته ورکړ شو. هغوی جنازه د صليب څخه راښکته کړه او هغه ئې په پنځوسو کيلو عطرو او ادوياتو باندې پټ کړ او د کتان کفن ورکړ شو او د هغه جسد ئې په يوه قبر کې چې په يوه ډبره کې کيندل شوی ؤ او د يوه سوری شکل ئې درلوده دفن شو. پس د هغه نه يوه لويه ډبره د ژرندې د پل په شان ئې د سوری پر مخ کيښوده او پيلاطوس حکم وکړ چې هغه

ډبره په موم باندې مهر کړي او سپاهيان دې پر هغه پيره وکړی، تر هغه چې څوک قبر خلاص نه کړی.

حضرت عيسیٰ په وار وار خپل شاګردانو ته ويلی ؤ، چې په صليب به ځوړند شي او پس له دريو ورځو نه به بيرته ژوندې شی.

هغوی داسې فکر کاوه چې حضرت عيسیٰ هغه وخت چې دفن شو د مځکی په مخ به بيا دوی هغه ونه ګوری. مګر د يکشنبې په ورځ هغه وخت چې د دۀ قبر ته ولاړل، وئې ليده چې قبر خلاص دی. هغه وخت چې دوي قبر ته دننه لاړل وئې ليدل چې هغه کتان چې د حضرت عيسیٰ په جسد باندې پيچل شوی ؤ، خالی دی او جسد په کې نشته.

پس له هغه حضرت عيسیٰ بيرته ژوندې شوي ؤ د دۀ ځينو شاګردانو هغه وليد او له هغوی سره ئې خبري هم وکړي او هغوی دی وپيژنده. په هم هغه شپه، د دۀ مريدان په يوه کوټه کې راټول شوی ؤ او دروازی ئې هم کلکی وی. حضرت عيسیٰ کوټې ته ولاړ، دوی ته ئې ځان وښوده، خبري ئې ور سره وکړي او ډاډ ئې ورکړ، چې دی ژوندی دی.

تر څلويښتو ورځو پوری حضرت عيسیٰ خپلو شاګردانو ته په مختلفو ځايونو کې ځان ورښوده او دوي ته ئې ويل چې ولی دا ضرور ؤ، چې دی رنځ او کړاو وباسي. او هغه خپلو شاګردانو ته وويل چې د دنيا هر ګوټ ته لاړ شئ او دا زيری خلکو ته ورکړئ چې دوي حضرت عيسیٰ د خپل خلاصونکی په ډول ومني لوی خدای به د هغوی ټول ګناهونه وبخښی. هغه خپلو مريدانو ته وويل چې څو ورځې په اورشليم کې واوسيږی تر هغه چې روح

القدس پیدا کړي او چې د خپل کار د پاره تیار شي. او په پای کې هغه وخت چې دۀ خپلو شاګردانو ته وعده ورکړه چې دی به د دنیا تر پایه پورې روحاً له دوي سره وي، په داسې حال کې چې دوي ورته کتل هغه آسمان ته جګ شو. مخکې د آسمان له تلو نه دۀ ونه ویل چې بل څوک به د دۀ ځای ونیسی.
په دې وخت کې د دۀ مریدانو په ژړا او زاری پیل ونه کړ ولې چې دوي پوهیدل چې دی روحاً دوي سره دی او له وعدی سره سم به دی یوه ورځ بیرته دنیا ته راشی. هغوی په ډیره خوشحالی سره دعا وکړه او د روح القدس انتظار ئې کاوه چې حضرت عیسیٰ وعده ورکړي وه. پس له دې واقعی نه لس ورځې وروسته د یهودیانو د پنتکُست د اختر په وخت کې د عیسیٰ یو سلو شلو شاګردانو د یوی ټولنې په وخت ناڅاپه یوه عجیبه پیښه ولیده. هغوی د باد د آواز په څیر یو آواز واوریده، مګر هغه باد نه ؤ. هغوی ولیده چې یو شي لکه د اور لمبي پر هغوی باندې راځی مګر اور نه دی. پس له هغه دوي په هغه ژبه باندې چې دوي هیڅکله خبري نه وي کړي خبري وکړي. ډیر خلک د بیلو بیلو ځایونو څخه راتلل، او هر چا به د پاک الله کلام پخپله مورنۍ ژبه آوریده او ټول له دې پیښی څخه حیران ؤو. هغه وخت پطروس جګ شو او وی ویل چې حضرت عیسیٰ خپله وعده د روح القدس په احضار کې تر سره کړي ده. پطروس د روح القدس په قدرت سره خلکو ته وویل چې حضرت عیسیٰ ولی د خلکو د ګناهونو لپاره مړ شو. او الله تعالٰی څنګه دی بیرته ژوندي کړ. دۀ وویل چې دی او نور رسولان د دې پیښی شاهدان دي چې حضرت عیسیٰ

پس له مړینې نه ژوندي شو او خلکو ته ئې وویل چې توبه وکړي او په حضرت عیسیٰ باندې ایمان راوړي، تر هغه چې د دوی ګناهونه وبخښل شي. روح القدس د پطروس موعظه سبب کړه او د خلکو زړونه یې واړول چې له دې خلکو نه دری زره کسانو په حضرت عیسیٰ باندې ایمان راوړ او د ګناهونو د پاکۍ په نخښه په اوبو کې ولمبیدل.

پس له دې نه د عیسیٰ شاګردانو د خلاصون زیری ورکولو ته په اورشلیم او نورو ښارونو کې پیل وکړ او ډیرو خلکو ایمان راوړ، لکه چې حضرت عیسیٰ پیشګوئې کړې وه. د یهودو حاکمانو هغه کسانو ته چې ایمان ئې راوړی ؤ آزار ورکاوه او یو څه ئې مړه کړه. په اخر کې د حضرت عیسیٰ ډیر پیروان له فلسطین څخه ولاړل او هر چیرې تلل د حضرت عیسیٰ زیری ئې خلکو ته ورکاوه تر هغه چې ډیرو یهودیانو ایمان راوړ. پس له هغه نه الله تعالیٰ پطروس ته هدایت ورکړ چې د یو افسر کره چې یهودي نه وه ورشي او د خلاصون احوال دهٔ او د دهٔ کورني ته ورکړي. د دهٔ د کورني ټولو کسانو ایمان راوړ او روح القدس ئې وموند. په دې ډول څرګنده شوه چې پاک خدای غواړي چې ټول خلک یهودیان او غیر یهودیان خلاصون ومومی.

یو نفر یهودي چې پولوس نومیده د حضرت عیسیٰ د پیروانو ډیر سخت دښمن ؤ او د ده وظیفه د هغو بندیان کول او وژل ؤ.

هغه وخت چې هغه شام ته د حضرت عیسیٰ د پیروانو د ګرفتارولو لپاره روان ؤ، هغه حضرت عیسیٰ ولیده چې له آسمان څخه راښکته شو او دهٔ ته ئې وویل: «ولی له ما سره جفاء کوئ؟»

هغه چې حضرت عیسیٰ ژوندی ولیده پر هغه یې ایمان راوړ او حضرت عیسیٰ هم هغه له خپلو رسولانو څخه وګرځاوه. وروسته له دې د پولوس په نامه مشهور شو او د حضرت عیسیٰ مسیح د زیری په رسولو کې یونانیانو او رومیانو ته د ټولو نه زیات زیار وویست. بر سیره پر دې پولوس د نوی عهد دیارلس خطونه په خپلو لاسو ولیکل.

نو که چیري تاسو پس له هغه وخت نه چې حضرت عیسیٰ مصلوب شو د نوی عهد په وسیله د مسیحیت خوریدل مطالعه کړي نو وبه وینی چې د حضرت عیسیٰ له تګ نه وروسته د دهٔ کار پای ته نه دی رسیدلی. هغه څه چې پطروس او پولوس او نورو ایماندارانو سرته ورسول په حقیقت کې هغه کار ؤ چې حضرت عیسیٰ په خپله د هغوی په واسطه سر ته رساوه. حضرت عیسیٰ د مرګ څخه پورته شوي دی او ژوندي دی، عیسویان عقیده لری چې حضرت عیسیٰ جانشین نه لری هغه هر وخت له خپلو پیروانو سره دی څنګه ښه دی چې انسان داسی پیاوړي او مهربان خلاصوونکی ولری چې تل ژوندی وی.

او دې ته تیار وی چې له هغه کسانو سره چې په دهٔ باندې باور لری مرسته وکړي.

عیسویت په عجیبه توګه پس له حضرت عیسیٰ څخه پراختیا وموندہ او دا پراختیا نه د جګړي د لاري وه او نه د سیاسی زور اچولو له لاري او نه د عیسویانو د پیسو او پوهي په زور، د روم په امپراطوری، او په نورو ځایونو کې ډیرو په حضرت عیسیٰ ایمان راوړ. او په دې توګه د خدای دوستان شول. دا کار د الله تعالی د

محبت د زیری په وسیله او د روح القدس پیاوړتوب ؤ چې د خلکو په زړونو او فکرونو کې د پاک الله د کلام د آوریدلو سره اثر واچاوه او عملی شو.

## ۷- عیسیٰ مسیح څوک دی؟

ګرانه وروره! اوس پوهیږم چې غواړی دا سوال وکړی چې: ډیر خلک غواړی د هغه په جواب وپوهیږي او د دنیا د لویو سوالونو څخه ګڼل کیږي او هغه دا دی چې: د دې لوی سړی د ژوند حال چې په لنډه توګه دلته نقل شوي دی څوک دی؟ د دې سوال په باره کې ډیر لوی، لوی کتابونه لیکل شوی دي او دا سخته ده چې انجیلو کې داسي معلومیږی چې هغه یو انسان ؤ. که څه هم جسمانی پلار ئې نه درلود مګر د خپل مور بی بی مریم له خوا د حضرت داؤد د اسرائیلو لوی پادشاه سړی ووائې چې حضرت عیسیٰ مسیح څوک دی؟ ولی کوشش به وکړم چې دا سوال حل کړم. یوائینی سرچینه په دې حصه کې مقدس کتاب دی. ټول هغه شیان چې زه وایم له مقدس کتاب څخه به وي.

د حضرت عیسیٰ د ژوند د شرحی څخه په څلورو او پیغمبر له نسله څخه دی. حضرت عیسیٰ لکه د نورو خلکو غوندی وده کوله. ډوډی ئې خوړله، خوب ئې کاوه او کسب ئې هم ترګاڼی ؤ. هغه د دنیا د خلکو له ټولو خوشحالیو او ستونزو نه خبر ؤ. له دې کبله هغه قادر دی چې له مونږ سره په ټولو بشری تجربو کې مرسته وکړي (عبرانیان ۲: ۱۸ او ۴: ۱۵). حضرت عیسیٰ انسان ؤ او کولی شو چې وادهٔ وکړي او اولاد ولری. مګر هغه دا کار ونه کړ. د دهٔ تصمیم د هغی نقشی سره سم ؤ. کوم چې الله تعالیٰ د دهٔ د پاره غوره کړې وه. که څه هم حضرت عیسیٰ انسان ؤ مګر له ډیرو خواوونه ئې له نورو سره فرق درلود، هم هغسی چې مخکی

وویل شول ډیر مبارک خلک او ختیٰ انبیاؤ الله تعالٰی د امرونو څخه غفلت کړی او په همدې دلیل ګناهګاران دي. مګر له حضرت عیسیٰ څخه په ټول ژوند کې داسې کار ونه لیدل شو چې د پاک الله د ارادی سره مخالفت وکړي. له همدې کبله دی یوائینی بې ګناه انسان دی. (اول پطروس ۲: ۲۲ اول یوحنا ۳: ۵).

حضرت عیسیٰ نه یوائی بې ګناه ؤ بلکه د هغه اراده د پاک خدای له ارادی سره سمه وه. او په حقیقت کې هغه یوائینی کامل انسان دی چې په دې دنیا کې ئې ژوند کړي دی.

هغه چا چې د حضرت عیسیٰ کارونه ولیدل ګواهی ئې ورکړه چې د دۀ قدرت د تعجب وړ دی. دۀ په یو وخت کې یو ړوند چې له موره ړوند پیدا شوی ؤ حضور ته ومانه او بینائی ئې ور وبخښله. په یو بل وخت کې چې دی او د دۀ شاګردان په یوه وړه کشتۍ کې سپاره ؤ او له یوه سیند نه تیریدل یو سخت طوفان وشو او نژدې وه چې کشتۍ ډوبه کړي، مګر حضرت عیسیٰ طوفان او باد ته امر وکړ او دستی آرام شو. یو سړی چې ایلعازر نومیده او څلور ورځې ئې له مرګ څخه تیری شوي وي له قبر څخه وغوښته او مړی فوراً له قبر څخه راووت، مګر تر ټولو لوی کار دا ؤ چې هماغسې ئې پیشګوئی کړی وه دری ورځې وروسته پس له خپل مرګ نه ژوندي شو. له خپل قبر نه راووت او خپلو مریدانو ته ښکاره شو. چا د عیسیٰ مسیح څخه پرته داسې اعمال سرته رسولی دي؟ څوک پیژنئ چې له مړو څخه پورته شوی وی او بیا مړ نه شی؟ نه هیڅوک نه! نو دا یوه څرګنده خبره ده چې که څه هم

حضرت عیسیٰ یو انسان ؤ، مګر له سترو انسانانو څخه هم ستر ؤ، نو هغه څوک دی؟ لکه چې مو مخکې ویلی ؤ حضرت عیسیٰ خپله ویل چې دی د خدای تعالیٰ زوی دی، ده نه یوائې دا خبره په خپله محاکمه کې ویلی ده، بلکه مخکی له هغه نه ئې هم ویل او برسیره پر دې هغه خدای تعالیٰ خپل ((پلار)) ګاڼه. یو وار ئې وویل: ((زه او زما پلار یو یُو)) د دهٔ دښمنانو غوښتل چې دی سنګسار کړی، ولی چې دوې فکر کاوه چې دی کفر وایی. مګر مونږ ډیر ښه پوهیږو چې حضرت عیسیٰ کافر او دروغجن نه ؤ. بلکه د دهٔ ټول کارونه ټیک او صحیح ؤ. باید په دې ټکی وپوهیږو چې که څوک ووائې چې حضرت عیسیٰ د خدای زوی نه دی، دی حضرت عیسیٰ دروغجن ګڼی او که حضرت عیسیٰ دروغجن وی، هیڅوک باید په هغه ایمان ونه لری. هغه وخت چې حضرت عیسیٰ ویل چې زه د خدای زوی یم، د پاک الله هغه خبره ئې تکراروله چې د تعمید په وخت کې له آسمانه وویل شو: ((ته زما محبوب زوی یئ، ستا نه زه رضا یم)) (مرقوس ۱: ۱۱). د حضرت عیسیٰ د رسولانو په ټولو لیکونو کې په څو څو واره ویل شوی دي چې حضرت عیسیٰ د پاک خدای زوی دی او ټولو مسیحیانو هم دا منلي دي. مګر دا خبره په یاد ولرئ چې دا اصطلاح روحاني بڼه لری نه جسماني. ولی چې الله تعالیٰ له کومې ښځې سره وادهٔ نه دی کړی چې هغه زوی ولری. او دا کار د سوچ نه لری دی.

په انجیل کې عیسیٰ ((کلمه الله)) هم بلل کیږی.

د خدای د زوی کلمه د حضرت عیسیٰ یووالی د لوی خدای سره بنیی، مګر د کلمه الله اصطلاح مونږ ته بنیی چې پاک خدای د حضرت عیسیٰ په واسطه له انسان سره خبرې وکړې. په انجیل کې داسې لولو: ((په ازل کې کلام وو او کلام خدای څخه وو او کلام خدای وو، دغه په ازل کې د خدای څخه وو او د هغهٔ په وسیله ټول شیزونه په وجُود کې راغلل. څه چې په وجُود کې راغلل، یو شیز هم بغیر د هغهٔ نه په وجود کے رانهٔ غی. په هغهٔ کې ژوندون وو او هم دغه ژوندون د بنی آدمو نور وو... نو کلام جُسه شو او هغه زمونږ سره اوسیدو او مونږ د هغهٔ لوئی ولیده، داسې لوئی لکه چې د یو زوی چې په فضل او حقیقت معمور وي)) (یوحنا ۱: ۱، ۱۴). د پورتنی آیاتونو څخه مطلب دا دی چې پاک الله، مخکې د انبیاؤ او د هغو د کتابونو په واسطه خپل ځان څرګند کړی ؤ، په پای کې ئې ځان د یو کامل سړی په وسیله څرګند کړ. دا کامل شخص له یو پیغمبر نه ډیر لوی دی، په حقیقت کې د الله تعالیٰ سره یو دی. د انجیل شریف پورتنی آیات مونږ ته وائی چې دا سړی کلمه الله او د خدای تعالیٰ زوی دی. هغه له اول نه له خدای تعالیٰ سره یو ؤ او هر شی د هغه په واسطه پیدا شوی دي. په یو مقرر وخت کې د الله تعالیٰ ابدی کلمه د پیغلی مریمی په ګیډه کې انسانی بڼه غوره کړه او د حضرت عیسیٰ په شکل ظاهر شو. په دې ډول مونږ ګورو چې دی د دوه طبیعتونو یعنی د انسانی او الٰهی خویونو خاوند دی. عیسیٰ مسیح هم انسان دی او هم رب. اولنی خلکو چې په ده ایمان راوړو او د دهٔ رسولان شول، یهودیان ؤ او د الله تعالیٰ په وحدانیت ئې

پوره یقین درلوده. هغه وخت چې دوي له حضرت عیسیٰ سره دوه کاله تیر کړل دوی پوه شول او پوره باور ئې درلوده چې د دوی استاد له پاک الله سره یو دی او هم دا دلیل ؤ چې پطروس وویل: «تۀ د ژوندی خدای زوی مسیح یې» (متی ۱۲: ۱۲).

همدارنګه توما، هغه وخت چې حضرت عیسیٰ پس له مرګه ژوندی ولید وویل «زما مالکه او زما خدایه!» (یوحنا ۲۰: ۲۸) حضرت عیسیٰ د خپلو شاګردانو توصیف له دې کبله کړی دی چې په هغه باندې ئې ایمان درلوده، توما د عیسیٰ د لیدلو وروسته په هغه باندې ایمان راوړ. عیسیٰ وویل: «په دې چې تا زه ولیدم نو ایمان دې راؤړو. بختور دي هغوئ چې زه ئې نۀ یم لیدلی خو ایمان راؤړی» (یوحنا ۲۰: ۲۹). دا بختورتیا مونږ ته هم په نصیب کیږی، په دې شرط که ایمان ولرو چې هغه د خدای زوی دی.

اوس پوهیږم چې غواړی پوښتنه وکړی چې «لوی خدای یو دی، نو څنګه دا کیدي شي چې حضرت عیسیٰ د خدای زوی شي؟» دا د هغه اسرارو څخه ده چې د هغه پوهیدل زمونږ د عقل نه لری دي. بې له خدای نه څوک د الله په ذات او ماهیت باندې پوهیدلی شي؟ مګر باید په دې پوه شو چې پاک خدای مطلق قادر دی او هغه څه چې د دۀ د ارادی مخالف نه وي کولي شي. کیدي شي چې په طبیعت کې وګورو او د الله د اسرارو نخښې نښاني که څه هم ناقصی وی پیدا کړو. لمر ته وګورئ چې په آسمان کې دی دومره لوی او تود دی چې که مځکې ته نژدې شئ ټول شیان به له منځه یوسي. لمر خپلی وړانګی، چې په حقیقت کې له لمر سره

فرق نه لري، پر دنیا باندې خپروی او د هغه په واسطه مونږ ته رڼا او تودوالی بخښي.

په همدې ډول لوی خدای خپله رڼا زمونږ په دنیا چې له ده سره فرق نه لری اچوی، تر هغه چې مونږ ته ژوند راوبخښی. لوی خدای دا نور خپله کلمه او خپل زوی ګڼی. د خدای تعالیٰ نور د حضرت عیسیٰ مسیح په صورت څرګند شو چې دی په خپله باره کې داسي وائی: ((زه د دنیا نور یم . څوک چې ما پسی راځی هغه به په تیارهٔ کې نهٔ ګرزی بلکه په هغه نور کې چې ژوندون روښانه کوی)) (یوحنا ۸: ۱۲). هغه وخت چې حضرت عیسیٰ مسیح وینو نو لوی خدای وینو. حضرت عیسیٰ وویل: ((فیلیپوسه! تاسو سره زه د دومره مودی نه یم او بیا مې هم نهٔ پیژنئ څه؟ هر چا چې زه لیدلی یم پلار ئې هم لیدلی دی، نو بیا تهٔ څنګه وائې چې مونږ ته پلار وښیه؟)) (یوحنا ۱۴: ۹) له دې کبله مونږ عیسویان ډاډه یو چې لوی خدای په خپله د عیسیٰ مسیح په واسطه زمونږ خوا ته راغلی دی او عیسیٰ د رب مظهر دی.

ګرانه وروره! دا ستا په نظر یو عجیب کار دی چې قادر مطلق خدای د ګناهګار بشر د خلاصون لپاره په دې ډول دنیا ته راشی؟ مګر هیر نه کړې هغه خدای چې ډیر لوی دی خپل ټول کارونه د محبت له مخی سرته رسوي او دنیا ته د هغه د راتګ له امله د حضرت مسیح په شخصیت خپل محبت مونږ ته څرګند کړی دی.

بې شکه تاسي د هغه عادل پادشاه قصه آوریدلی ده چې د فقیرانو کالی به ئې اغوستل او د مظلومو خلکو کره به ورتلو او د هغوی سره به ئې خبرې کولې او له هغوی سره به ئې مرستې

کولي. دا ناقصه او نامکمله نمونه تر يو څه پورې د دې ښکارندوی ده چې څرنګه د خدای زوی چې له خدای سره يو شی دی، خپل آسمانی جلال ئې پريښود او مځکی ته راغی او لکه د يو فقير انسان په شان ئې ژوند وکړ، تر هغه چې خپل محبت انسانانو ته ښکاره کړي او هغوی د پاک الله خوا ته را وبولي. دا راز محبت ډير حيرانوونکی دی!

## ۸- د حضرت عیسیٰ کار د مځکې پر مخ څه ؤ؟

څرنګه چې ولیدل شو حضرت عیسیٰ مسیح دنیا ته راغی، تر څو الله تعالٰی انسان ته ښکاره کړي او انسان خدای تعالٰی ته نژدې کړي او د خدای تعالٰی د پادشاهۍ د بنسټ ډېره پر مځکه کېږدی. په دوهم فصل کې وویل شول چې څرنګه انسان د خدای تعالٰی په مقابل کې ودریده، نه یوائې د ګناهونو د دیوال په واسطه د خدای څخه جلا شو، بلکه داسې کمزوری شو چې نه ئې شو کولی خپله یوائې د خدای تعالٰی اطاعت وکړی او هغه ته نژدې ژوند وکړي. له دې کبله لوی خدای فیصله وکړه چې د ګناه دیوال له منځه یوسي او چې د شریر انسان زړه نرم کړي تر څو چې انسان په دې قادر شي چې خدای عبادت وکړي او په زړه کې ئې د هغه لپاره مینه پیدا شي او د هغه اطاعت وکړي. لوی خدای دا کار څرنګه وکړ؟ اوس کوشش کوم چې د مسیحیت یوه لویه اصولی عقیده تشریح کړم.
څرنګه چې مخکې مې وویل، لوی خدای حضرت آدم او بی بی حوا ته وویل چې که سرغړونه وکړئ مړه به شئ. حضرت یشعیاه په خپل کتاب کې چې په سل ګونو کاله مخکې له حضرت عیسیٰ د تولد څخه لیکل شوی دی، د یوه سړی د راتګ په باره کې وائی، چې دی به د ګناهګارانو پر ځای ډیر ډیر کړاونه وزغمی او مړ به شی. تر هغه چې ګناهګاران وبخښل شي او ژوند ومومی. حضرت یشعیاه داسی اټکل کوی: هغه زمونږ د بدی لپاره زخمی او وژل کیږی او د هغه د زخمو په سبب به مونږ روغ شو. مونږ د

هغه پسونو په شان ؤ چې بې لاری روان ؤ... لوی الله زمونږ د ټولو ګناهونه په دۀ باندې کیښوده او دی به زمونږ د ګناهونو پیټی په ځان آخلی (یشعاه **۵۳**). په لنډه توګه هغه خلاصونکی چې پاک الله ئې وعده ورکړې وه د قربانۍ په شان خپل ځان ئې د انسان د ګناهونو لپاره قربان کړ.

څرنګه چې مې مخکې وویل، دا هغه کار ؤ چې حضرت عیسیٰ مسیح سرته ورساوه. حضرت یحییٰ وویل چې حضرت عیسیٰ د خدای هغه وری دی چې د دنیا ګناه لری کوي (یوحنا **۱ : ۲۹**). خپله عیسیٰ مخکې له خپل مرګ نه، وویل چې: د دۀ وینه به د ډیرو خلکو د ګناهونو د بخښلو لپاره توی شی (متی **۲۶ : ۲۸**).

وروسته حضرت عیسیٰ خپل ځان د ګناهکارانو د ګناهونو د بخښلو لپاره قربان کړ، او د الله تعالیٰ محبت ئې انسان ته ښکاره کړ او همدارنګه ئې خپل محبت هم وښود.

پولوس رسول وائی ((خو خدای خپله مینه مونږ ته داسې ښکاره کړه، کله چې مونږ لا ګناه ګار وو نو مسیح زمونږ لپاره مړ شو!)) (رومیان **۵ : ۸**) حضرت عیسیٰ وویل: ((خدای د دې دنیا سره داسی مینه وکړله چې خپل یکی یو زوی ئې هم ورکړو چې هر هغه څوک چې په زوی ئې ایمان راوړی هغه هلاک نۀ شی خو د تل عُمری ژوندون بیا مومی)) (یوحنا **۳ : ۱۶**). له دې کبله چې لوی خدای عادل دی، نو ګناهګاران به تر هغه وخته پوری ونه بخښی چې د دوی د ګناهونو کفاره ور کړی شوی نه وی. هیڅوک دومره پوره نه دی، چې وکولي شي د نورو د ګناهونو لپاره قرباني شي لوی خدای د خپل رحمت او محبت په اثر په حضرت عیسیٰ کې

ښکاره شو تر هغه چې زمونږ ګناهونه پر ځان واخلي. لوی خدای د هغه ټولو کسانو د ګناهونو کفاره ورکړې ده چا چې په عیسیٰ ایمان راوړی. د خدای تعالی زوی دومره عالی مقام لری چې د هغه یوائې قربانی کیدل د ټولی دنیا د ګناهونو د کفاری لپاره کفایت کوي. له دې کبله د ګناهګارانو لپاره بله قربانی په کار نه ده. حضرت مسیح د خپلی قربانی په واسطه هغه دیوال چې ګناهګارانو او لوی خدای په منځ کې خنډ ؤ له منځه یوړ او دا امکان ئې پیدا کړ چې دوي وبخښل شي او لوی خدای ته نژدې شي. حضرت عیسیٰ نه یوائې له هر چا نه په ښه توګه خالق تعالی خپلو بنده ګانو ته معرفی کړ، بلکه همدارنګه ئې د خپل مقدس ژوند او د خپلې مړینې په وسیله ئې زمونږ ګناهګارانو لپاره د لوی خدای اراده او نیت ښکاره کړ. په ایران کې یو سړی راته وویل: مخکې له دې چې مسیحی شم، فکر مې کاوه چې خدای وپیژنم چې دی مې په حضرت عیسیٰ مسیح کې ولیده. هر څوک چې د الله تعالی په لټه کې وی، هغه به په حضرت مسیح کې پیدا کړی.
مخکی له دې نه چه دا برخه تمامه کړم، غوړام چې د حضرت مسیح یو څو نومونه تاسو ته بیان کړم.

۲- د هغه اصلی عنوان مسیح دی. د مسیح معنیٰ مسح شوی دی چې د خالق په واسطه مسح شوی دی، تر هغه چې ابدی بادشاه وی.
۳- دی «عمانوئیل» دی، چې معنیٰ ئې خدای له مونږ سره دی.

۴- دی د خدای کلمه ده.
۵- دی د ((خدای زوی)) دی.
۶- دی د ((انسان زوی)) دی، ځرنګه چې به ده خپل ځان ته ویل.
۷- دی د ((خدای وری)) دی.
۸- دی د ((جهان خلاصونکی)) دی.
۹- دی د ((پادشاهانو پادشاه)) دی.
۱۰- دی ((مالک)) دی.
۱۱- دی ((نیک شپون)) دی.
۱۲- دی ((لار)) ده.
۱۳- دی ((حقیقت)) دی.
۱۴- دی ((ژوند)) دی.
۱۵- دی ((د ژوند خوراک)) دی.
۱۶- دی ((رښتیانی)) تاک دی.
۱۷- دی ((پوره انسان)) دی.
۱۸- دی ((غمخور)) دی.
۱۹- دی ((لوی کاهن)) دی.
۲۰- دی ((قیامت)) دی.
۲۱- دی ((ربُ الجلیل)) دی.

## ۹- انسان څه باید وکړی څو د خدای له خوا وبخښل شی او د ګناه څخه خلاصون حاصل کړ؟

ګرانه وروره! اوس هغه سوال ته رسیږو چې ما او تا ته او نورو ډیرو خلکو ته ارزښت لری. ټول پوهیږو چې ګناهګاران یو. باید خدای تعالی څخه وغواړو چې هغه لار مونږ ته وښئیی چې د هغه په واسطه مونږ وبخښل شو او خدای تعالی مونږ ومنی. څنګه چې ټول پوهیږی په دې هکله راز، راز عقیدی موجودی دي. ځینی داسې فکر کوی ځکه چې په یو خاص قام او ډلې پوری اړه لری او یا د یوه خاص مذهب او عقیدی پیروان دي، نو خدای تعالی دوی بخښی. ځینی په دې عقیده دي چې د نیکو کارونو په سر ته رسولو سره به خپل بد کارونه پټ کړی او په دې ډول به وبخښل شی. ځینی په دې عقیده دي چې کوم یو له انبیاؤ څخه به دوی ته دعا وکړی او لوی خدای به دوی وبخښی مګر مقدس کتاب مونږ ته داسې تعلیم راکوی، چې په دې لارو باندې مو چې مخکی مو وویل مونږ نه شو کولی چې ابدی خلاصون په لاس راوړو. هیڅوک په پوره توګه ښه نه دی چې د مقدس خدای د قبلول وړ وګرځی. بل امید زمونږ ګناهګارانو لپاره موجود نه دی؟ له لوی خدای نه شکر باسو چې زمونږ لپاره امید شته هغه څه چې مونږ ونه شو کولی د ځان لپاره وکړو لوی خدای د خپل پاک محبت په اثر زمونږ د پاره کړی دي مقدس کتاب وائې ((هغه په خپله زمونږ د ګناهونو کفاره دی، نۀ یواځی زمونږ د ګناهونو بلکه د ټولی دنیا د ګناهونو هم.)) خو که مونږ په نور کې ګرځو لکه څنګه چې هغه

په خپله په نور کې دی نو بیا مونږ په خپلو کې شراکت لرو، او د هغهٔ د زوی عیسیٰ وینه مونږ د هر یو گناه نه پاکوی... که مونږ د خپلو گناهونو اقرار کوو نو هغه وفادار او صادق دی، او هغه به زمونږ گناهونه معاف کړی او د هر قسم بدو نه به مو پاک کړی» (لومړی یوحنا ۲: ۲ او ۱: ۷، ۹).

په دې توگه، وینو چې هغه لار چې پاک الله زمونږ گناهگارانو لپاره پرانیستی، چې هغه تعقیب کړو او په هغه روان شو، او په هغه لار خدای ته ومنل شو دا ده چې په حضرت عیسیٰ د گناهونو د ربښتینی قربانی باندې ایمان راوړو او بله لار نشته. ولی چې حضرت عیسیٰ وائې «زه لار یم، زه حق یم او زه ژوندون یم. هیڅوک هم زما د وسیلی نه بغیر پلار ته نهٔ شی راتلی» (یوحنا ۱۴: ۲). لوی خدای خپل زوی مځکې ته راواستاوه تر هغو چې ټولو خلکو ته نجات ورکړی او حضرت عیسیٰ هر هغه څوک منی چې د هغه خوا ته ورشی، څوک چې د حضرت عیسیٰ خوا ته ورشی منل کیږی. د دې خبری معنیٰ دا ده چې هر څوک له خپلو گناهونو څخه توبه وکړی، او حضرت مسیح چې د خدای زوی دی د خپل خلاصونکی په توگه ومنی ضرور هغه بخښل کیږی هر څوک ځوان او زوړ، ښه او بد، بیسواده او باسواده کولی شی د هغه خوا ته راشی، مگر دومره باید پوه شو چې ایمان په حضرت مسیح باندې یواځی دا نه دی چې هغه یوازی د خدای زوی وگڼو. باید مونږ هغه ته ځان وسپارو لکه یو ناروغ چې ځان یو ډاکتر ته سپاری او پر هغه باندې باور لری چې ده ته به شفاء ورکړی. مونږ مسحیان ډیر خوشحاله یو چې حضرت عیسیٰ د نورو رسولانو په

شان مړ نه دی او په قبر کې پروت نه دی. هغه ژوندی دی او روحاً ژمونږ سره دی. هغه وخت چې ده د یو انسان غوندی په فلسطین کې ژوند کاوه او ناروغانو ته ئې شفا ورکوله، اوس هم کولی شی چې مونږ ته نجات راکړی. حضرت عیسیٰ د لمر د وړانګو په شان هم زمونږ سره دی او هم په آسمان کې له خپل آسمانی پلار سره دی. هغه همیشه خپل پلار سره دی او هلته هغه چا ته چې په ده ایمان لری تل دعا کوی. مقدس کتاب وائی: «د دې لپاره چې څوک د دۀ په وسیله خدای ته راځی هغه هغوئ ته پُوره پُوره خلاصُون ورکولی شی ځکه چې هغه د هغوئ د شفاعت لپاره همیشه ژوندی دی» (عبرانیان ۷: ۲۵). د هغه مرګ آسان مرګ نه ؤ یعنی داسې مرګ نه ؤ چې مونږ او تاسو ئې لرو، بلکه د هغه مرګ شانداره او ډیر ویاړلې ؤ چې د بشریت خلاصون ئې په لاس کې درلود. خو د هغه شفاعت هم صرف د دوزخ څخه د خلاصولو لپاره نه دی بلکه د خالق او بشر تر منځ د اړیکو د ټینګولو لپاره هم دی. رښتیانی مینه د بعیت ایښودونکی دی، تر څو د رب او انسان اړیکی سره پیاوړی شی.

ګرانه وروره! زه د زړه له کومی څخه دعا کوم چې ته او هر هغه څوک چې د رب د موندلو په لټه کې دي تیار اوسی چې دا د خلاصون سوغات ومنی. هیڅوک نه شی کولی چې خلاصون په بیعه واخلی. پاک الله خلاصون مونږ ته د سوغات په توګه راکوی. په دې شرط چې مونږ د ایمان لاسونه د ده خوا ته ور اوږده کړو او هغه ومنو.

## ۱۰= روح القدس څوک دی؟

تاسو ته به په یاد وی چې هغه وخت چې حضرت عیسیٰ د حضرت یحییٰ له خوا غوپه شو، روح القدس پر هغه نازل شو. همدارنګه حضرت عیسیٰ وعده ورکړه چې دی به هغه روح چې تسلی ورکوونکی بلل کیږی، له خپل تګ څخه وروسته راولیږی تر څو د ده رسولان پخپلو دندو کې رهنمائي کړی او مرسته ورسره وکړی د دې وعدی سره سم لس ورځې پس له عیسیٰ د جګیدو نه آسمان ته روح القدس پر ټولو ایماندارانو باندې را ښکته شو او هغوی د حضرت خدای پاک پیغام په قدرت سره خپور کړ چې له دې کبله څو زره کسانو په حضرت مسیح باندې ایمان راوړ. دا روح القدس څوک دی؟ ځینی خلک فکر کوی چې روح القدس جبرائیل فرشته او یا کوم پیغمبر دی او ځینو نورو دا خیال کړی ؤ چې روح القدس بې له یو مقدس قدرت نه بل شئ نه دی. مقدس کتاب داسې وائې چې: روح القدس د الله پاک د مخلوقاتو څخه نه دی بلکه د خدای تعالیٰ ورح دی او له خدای سره یو دی. هغه وخت چې د روح القدس کارونو ته ځیر شو دا موضوع بیخې څرګندیږی.

حضرت عیسیٰ یو سړی ته د نیکودیموس په نامه وویل چې د خدای تعالیٰ ملکوت کې داخل شې. هغه وخت نیکودیموس په تعجب سره پوښتنه وکړه چې څرنګه یو زوړ سړی لکه د ده غوندی څنګه کولی شی نوی ژوندون ومومی، حضرت عیسیٰ وویل له سره پیدا کیدل د روح القدس کار دی. دا یوه معلومه خبره ده چې

هماغسې چې الله تعالی کولی شی انسان ته جسمی ژوند ورکړی، همدارنګه کولی شی چې انسان ته روحی ژوند هم ورکړی او هغه په یوه نوی سړی بدل کړی. هغه وخت چې انسان په ګناه کې ژوند کوی د شیطان زوی دی. مګر الله تعالی قادر دی چې انسان د خپل روح القدس په واسطه بدل کړی او هغه وخت چې انسان له سره پیدا کیږی د لوی خدای منلی زوی ګرځی.

برسیره پر دې روح القدس د لوی خدای مقدسو کتابونو لیکوونکی هم دی ځکه چې هغه تیرو انبیاؤ ته لکه حضرت داود او یشعیاه او نورو ته لار ښوونه وکړه. همدارنګه روح القدس ؤ چې متی، لوقا پولوس او د نوی عهد نورو لیکوونکو ته ئې لارښوونه کړې ده د مقدس کتاب په قول «ځکه چې د نبیانو کلام هیڅ خبره هم د بنی آدمو د خواهش په مطابق کله هم نۀ ده شوی، بلکه بنی آدمو د روح القدس د اثر په وجه د خدای د طرفه خبری کولی» (۲ پطروس ۱: ۲۱). همدارنګه د الله روح هغه چا ته چې دا مقدس کتابونه ئې لیکلی دي لارښوونه کړی ده، همدا روح د هغه چا لپاره چې دا کتابونه وائې یواځنې او رښتینی لارښود دی. حضرت عیسیٰ وویل: «ما تاسو ته دا هر څه وویل په دې وخت چې زه له تاسو سره یم، خو مددګار یعنی روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوی، هغه به تاسو ته هر څه ښائی او بیا به درته هغه څه رایادوی، کُوم چې ما تاسو ته وئیلی دي» (یوحنا ۱۴: ۲۵-۲۶).

په دې کې شک نشته چې د حضرت عیسیٰ یاران ډیر غمجن شول، هغه وخت چې حضرت عیسیٰ دوی ته وویل چې دی باید

مصلوب شی او وروسته له دې دنیا نه آسمان ته وخیژی. مگر حضرت عیسیٰ د خپلی وعدی په وسیله چې د ده روح به راشی او دوی ته به لارښوونه وکړی او قدرت به ورکړی دوی ډاډه کړل. لس ورځی پس د ده له تګ نه آسمان ته روح القدس د ده پر یارانو باندې نازل شو او د دوی حالت ئې بدل کړ. له هم هغی ورځې نه پس روح القدس د حضرت عیسیٰ د ریښتنو پیروانو په وجود کې ځای پر ځای شوی دی. او د حضرت عیسیٰ د وعدی سره سم به په دوی کې هم هغسې پاتی شی (اعمال د رسولانو ۱: ۴-۸).

باید په دې وپوهیږو چې یوائی د خدای تعالیٰ روح کولی شی چې د ګناهګارانو ړندی سترګی بینا کړی او له هغوی سره مرسته وکړی، چې وپوهیږی حضرت مسیح څوک دی؟ ولی چې مقدس کتاب فرمائې ((په دې وجه به زه ضرور په تاسو تاکید وکړم چې هر څوک چې د روح القدس په وسیله خبری کوی، هغه به په عیسیٰ لعنت ونۀ وائی او بغیر د روح القدس د وسیلی نه هیڅوک نۀ شی وئیلی چې عیسیٰ مالک دی)) (اول کورنتیان ۱۲: ۳). له دې کبله عجیبه خبره نه ده هغه څوک چې روح القدس ورسره نشته نامکنه ګڼی چې حضرت عیسیٰ ته د ((خدای زوی)) ووائې.

له دې نه معلومیږی چې روح القدس ایماندارانو ته نوی پیدایښت بخښی او هغه معرفت بخښی چې وپوهیږی، حضرت عیسیٰ څوک دی؟ هغه همدارنګه زمونږ سترګی خلاصوی تر هغه چې خپلې ګناوې ووینو او مونږ ته دا قدرت بخښی چې توبه وکړو. هغه څوک چې په حضرت عیسیٰ باندې ایمان راوړی هغه

خالق بخښي او هغه په خپلو زامنو کې شميرى او هغه ته نوى زړه ورکوى. مګر د ده له ګناه نه ډک ځان او پخوانى ذات پاتې کيږى او هغه شرارت خوا ته کشوى او شيطان تل تيار دى چې دى له لارې واړوى او دى دې ته تشويقوى چې د الله تعالٰى له امر څخه سر وغړوى. روح القدس چې د ده په وجود کې دى له ده سره مرسته کوى چې له شيطان سره مقابله وکړى او په هغه کې هغه صفات منځ ته راوړى چې د خداى تعالٰى خوښ وى. لکه محبت يا پاکوالې، ريښتينتوب، خوشحالى، آرامى او صلح (ګلتيان ۵: ۲۲-۲۴). د روح القدس دا کار په ايماندارانو کې تر هغه وخته پورې چې دى په دې جهان کې ژوند کوى دوام لرى او په تدريج سره هغوې بدلوى او خپل استاد حضرت عيسیٰ ته يې نژدې کوى. ولې چې د پاک الله منظور دا دى چې مونږ ټول د هغه د يوائينى زوى په شان کامل شو، مګر هغه وخت چې مونږ د حضرت عيسیٰ په شان کامل شو جنت ته به ولاړ شو (اول يوحنا ۳: ۲). روح القدس د نورو لارو نه هم له مونږ سره مرسته کوى. مونږ ته راښيئ چې څرنګه دعا وکړو او مونږ ته د حضرت عيسیٰ د خدمت په لار کې لارښوونه کوى او قدرت راکوى (روميان ۸: ۲۶-۲۷ او اعمال ۱۳: ۲-۴ او ۱۲: ۶-۷).

هغه شى چې له دې حقيقتونو څخه پوهيږو دا دى چې روح القدس په ايماندارانو کې په اصل کې خپله خداى دى چې په هغوى کې اوسيږى. څومره لويه او د فخر او وياړنې خبره ده چې لوى او پاک خداى له خپل مقدس روح سره په انسان کې استوګنه وکړى! په حقيقت کې دا لوى نعمت دى چې خداى کولى شى چې انسان ته

ئې ورکړی، یعنی دا چې له دې نعمت سره ئې یو ځای خپل ځان انسان ته بخښلی دی او دغسې نعمت کومو کسانو ته بخښل شوی دی؟ څرنګه چې پوهیږو په تیرو وختونو کې پاک خدای خپل روح انبیاؤ او مقدسینو ته وربخښلی، مګر هغه وخت خدای خپل وری راواستاوه چې د دنیا خلاصونکی شی. خپل روح ئې هم هغه چا ته چې په حضرت عیسیٰ باندې ایمان راوړی او ځان ده ته تسلیم کړی او د خدای تعالیٰ نه وغواړی چې روح القدس هغه ورکړی. لوی خدای به هرومرو دا کار وکړی. «ځکه چې که تاسو هر څومره بد یئ خو په دی پوهیږئ چې خپلو بچو له ښهٔ څیزُونه ورکړئ نو ستاسو آسمانی پلار به څومره زیات هغوئ ته روح القدس ورکړی چې څوک ئې غوښتنه کوی!» (لوقا ۱۱: ۱۳) همدارنګه چې هره ورځ له هغه نه د روزئ غوښتنه کوؤ باید هر ورځ له هغه نه وغواړو چې مونږ له خپل روح نه ډک کړی. حضرت عیسیٰ وویل: «او دغه شان زه تاسو ته وایم چې وغواړئ نو تاسو ته به ورکړی شی، ولټوئ نو تاسو به ئې ومومئ، وډبوئ او دروازه به درته لری کړی شی» (لوقا ۱۱: ۹).

## ۱۱- دری اړخیزه یووالی څه شی دی؟

ګرانه وروره! اوس هغه ټکی ته رسیږو چې تاسو غوښتل په هغه وخت کې پوښتنه وکړئ چې ما وویل چې مسیحیان په یو خدای باندې باور او ایمان لری. زه پوهیږم چې تاسو آوریدلی دي چې مسیحیان دری خدایان لمانځی، خدای، حضرت عیسیٰ او مور ئې بی بی مریمه او دا دری اړخیزه یووالی شمیرل کیږی. څرنګه چې مخکې مې وویل که مسیحیان د خدای هر مخلوق د خدای تعالیٰ پر ځای ولمانځی او یا هغه د خدای پاک په اندازه ولمانځی ډیره لویه ګناه به ئې کړی وی. بی بی مریمه ډیره مقدسه ښځه وه ولې د لمانځلو وړ باید ونه ګرځی. دا صحیح خبره ده چې عیسویان حضرت عیسیٰ لمانځی هغه د دې له خاطره نه دی چې دی یو مقدس پیغمبر ؤ، بلکه له دې خاطره چې کلمه الله دی او د روح الله خدای سره بیخی یو دی، هغه داسې سړی نه ؤ چې مونږ انسانانو هغه له خدای تعالیٰ سره یو کړی وی. هغه له ازله څخه د خدای پاک سره یو ؤ. او له دې کبله د انسان په څیر راغی چې ګناهګار انسان ته نجات ورکړی او د خدای په لاره ئې سم کړی. له دې کبله دی د لمانځلو وړ دی چې دی په حقیقت کې خدای دی.

برسیره پر دې مخکې مو وویل چې روح القدس د خدای مخلوقات څخه نه دی او له خدای سره یو دی. او خپله خدای دی.

روح القدس د انسان په ژوند کې هغه کار سر ته رسوی چې یوائې خدای تعالیٰ کولی شی هغه سر ته ورسوی. په همدې ډول

د لمانځنی وړ دی لکه چې د خدای تعالیٰ زوی د لمانځنی وړ دی له دې نه کومې نتیجی ته رسیږو؟

آیا مطلب دا دی چې دری خدایان یعنی زوی، پلار، او روح القدس وجود لری؟ نه مطلب دا نه دی بیا وایم، خدای تعالیٰ یو دی هیڅ شریک او مانند نه لری او یو به وی مګر په دې یوالی کې د دې دری شخصیتونو یعنی پلار، زوی او روح القدس انکار څوک نه شی کولی. پلار چې په انسانی سترګو کې نه لیدل کیږی د الوهیت سرچینه دی. د بشری ژوند شکل یو وار زوی، پلار په کامل توګه څرګند کړ، روح القدس د پلار او زوی په واسطه راغی،تر هغه چې د الله پاک اراده د خلکو په منځ کې عملی کړی.

ګرانه وروره! ډاډه اوسه چې عیسویان واحد لوی خدای چې پلار، زوی او روح القدس دی لمانځی. حضرت عیسیٰ دی دری اړخیزی یو والی ته اشاره وکړه.

## ۱۲- مسیحی جماعت څه شی دی؟

او خپلو رسولانو ته ئې وويل:
«ځکه تاسو په مځکه خواره شئ او ټول قومونه زما مريدان کړئ او د پلار، د زوی او د روح القدس په نامه ورته بپتسمه ورکړئ» (متی ۲۸: ۱۹). وروسته به ووايم چې تعميد څه شی دی؟
آوريدلی به مو وی چې هغه ځای ته چې عيسويان عبادت په کې کوي کليسا يا جماعت وائی. خلک مسيحی جماعت يوائی د عبادت ځای ته نه وائی. د مسيحی جماعت معنیٰ د عبادت ځای نه دی. د جماعت حقيقی معنیٰ د هغو ايماندارو ټولنه ده چې په هغه ځای کې عبادت کوي يا جماعت د هغو ايماندارانو ټولنې ته وائی چې په يو مخصوص ځای کې وي او همدارنګه ايماندارانو ته هم ويل کيږي. هماغه ايماندارانو ته چې په آسمان کې دي او هماغه ايماندارانو ته چې په دغه جهان کې دي.
په تيرو وختو کې الله پاک د اسرائيل قوم خپل غوره قوم وټاکه. لوی خدای خپل احکام د حضرت موسیٰ په وسيله هغوی ته ولیږل او د فلسطين مځکه ئې هغوی ته ورکړه؟ او هغو ته ئې انبياء ورولیږل تر هغه چې دوي ته تعليم ورکړي او د عيسیٰ په باره کې دوي ته خبر ورکړي هغه وخت چې حضرت عيسیٰ په اسرائيلو کې د خلکو په منځ کې پيدا شو يو څه خلکو په هغه باندې ايمان راوړو، او له ځان څخه ئې يو نوی قوم جوړ کړ چې د حضرت عيسیٰ جماعت ورته ويل کيږی. په اوله کې يوائی اسرائيليان د الله پاک غوره قوم بلل کيدل مګر هغه څوک چې په حضرت

عیسیٰ باندې ایمان راوړی د هر ځای او هر قوم نه چې وي د پاک الله نوی قوم شمیرل کیږی. د اسرائیلو ټولني ته د ننوتلو لار د سنتولو مراسم ؤ، چې لوی خدای د حضرت ابراهیم او د دۀ د نسل ټولو نرانو ته مقرر کړی وه. مګر د ننوتلو لار د حضرت عیسیٰ جماعت ته چې د خدای تعالٰی نوی قوم دی بپتسمه ده. له دې کبله سنت اوس مذهبي اهمیت نه لری. بپتسمه هغه چا ته ورکول کیږي چې په حضرت عیسیٰ باندې ئې ایمان راوړی وي او بپتسمه د خدای تعالٰی په روحاني کورنۍ کې د غړیتوب نخښه ده. بپتسمه یوائې څوک نه خلاصوی. ګناهګاران په حضرت مسیح باندې د ایمان راوړلو په وسیلي سره خلاصون حاصلوي. بپتسمه د ګناه څخه د پاکوالی یوه نخښه ده او د یوه نوي ژوند پیل دی په حضرت مسیح کې. په بعضی جماعتونو کې د بپتسمی مراسم داسی وي چې پر هغه چا چې بپتسمه کیږي اوبه پاشی. او په بعضی نورو کې داسی وي چې خلک ټول په اوبو کې ننباسی. بپتسمه د هر سړی لپارهیوائې یو وار تر سره کیږی.

په نوی عهد کې جماعت د حضرت عیسیٰ وجود بلل کیږي. حضرت عیسیٰ د جماعت سر، او جماعت د عیسیٰ اندام او د جماعت غړی د هغه اندامونه دي. مسیحی جماعت قومونه، ژبی او ولسي فرق نه منی. جماعت پاک دی ولی چې پاک الله پوری اړه لری. په دې زمانه کې چې جماعت ګورو بې انصافي په کې روانه ده او کله کله شرارت هم په کې روان دی. د دې کار علت او دلیل څه شی دی؟ اول ټکې چې باید هغې ته توجه وشي دا دی چې په جماعت کې ډیر خلک دي چې دوي د روح القدس په واسطه له

سره نه دي ژوندی شوی. دوي حقيقی مسيحيان نه دي. مقدس کتاب وائی چې هر څوک چې د مسيح روح نه لري د مسيح نه دی (روميان ۸: ۹). بر سيره پر دې بايد وپوهيږو چې د جماعت ټول غړي د هغه ناروغانو په شان دي چې روغتون ته د علاج د پاره راغلی وي. هغوی خپل ځان د لوی طبيب حضرت مسيح لاسونو ته سپارلی دی او هغه دوي ورو ورو د ګناه له مرض څخه خلاصوي او شفا ورکوي. تر هغه وخته پورې چې مسيحان په دې دنيا کې ژوند کوي له ګناه څخه بيخي خلاص نه دی. له دې کبله ټول محتاج يو چې په خپلو ګناهونو باندې قايل شو، او له هغو نه توبه وکړو. ټول بنی بشر ګناهګاران دي، مګر هغه فرق چې د مسيحيانو او نورو تر منځ موجود دی، دا دی چې مسيحيان ځانونه هغه ډاکتر ته چې پاک الله دی تسليم کړی دي او د هغه د درمل نه استفاده کوي او د هغه امرونه منی په داسی حال کې چې نور داسی نه کوي.

تاسو بايد وپوهيږئ چې په دنيا کې د عيسويانو ډول، ډول فرقی موجوديت لری په داسی حال کې چې حقيقی ايمانداران په مسيح کې يو دي. دوه فرقی چې تر ټولو لويی او مشهوری دي د کاتوليک او پروټستانټ فرقی دي او دا دواړه فرقی ډيری ځانګي لری چې دی پر صليب باندې مړ شو او بيا ژوندی شو. او يوائينی خلاصوونکی دی. که څه هم بعضی مسيحيان په اساسی ځانګو کې سره ناسار دي ولی دوي ټول يوالی ته مينه لری او غواړی چې د حضرت مسيح د آرزو سره په ايمان او محبت کې يو اوسی. د جماعت مقصد څه شی دی؟ د جماعت د

مقصدونو څخه یو دا دی چې مسیحیان په ایمان او د الله تعالیٰ په محبت کې کامل شي او همدارنګه له نورو ایماندارانو سره مینه ولری. هر ایماندار باید د حضرت مسیح د امر سره سم د جماعت د غړیتوب په وخت د غوټې خوړل یا تعمید مراسم پر ځای کړی. هر مسیحی نورو مسیحیانو ته محتاج دی، هماغه ډول چې د بدن هره عضوه د بدن نورو اعضاؤ ته محتاجه ده ټول ایمانداران باید یو بل سره یو وي او خپل یو والی په جماعت کې وساتی.

جماعت ته ئې وظیفه ورکړی ده چې د دۀ کار په دې جهان کې مخکې بوځی، هغه وخت چې حضرت عیسیٰ په دې جهان کې ژوند کاوه د پاک الله کلام ئې خلکو ته بیانوه، ناروغان ئې روغول، غمجنو خلکو ته به ئې تسلی ورکوله او ګناهګاران به ئې په ښو لارو باندې سمول. حضرت مسیح مخکې له دې نه چې آسمان ته وخیژی، خپلو پیروانو ته حکم وکړ چې د خلاصون زیری د دنیا ټولو خلکو ته ورسوی. د ټولو مسیحیانو لوی کار په ټوله دنیا کې دا دی چې د حضرت مسیح پیغام ټولو خلکو ته ورسوی او هغوی ته بلنه ورکړی چې په حضرت مسیح باندې ایمان راوړی. همدارنګه مسیحیان باید د حضرت مسیح محبت ټولو خلکو ته چې له هر مذهب څخه وي په ډول، ډول ذرایعو یعنی مریضانو ته د شفا ورکولو په وسیله او جاهلانو ته د تعلیم ورکولو په وسیله او وږو خلکو ته د ډوډی ورکولو په وسیله او د خلاصون د لار ښودلو په وسیله دوي ته وړاندې کړی. حضرت مسیح خپل ژوند د خلکو په لار کې سرته ورساؤ. د دۀ د جماعت

غړی هم باید داسی وکړي. څنګه چې د پسو د پاره شپون ضرور دی، همدارنګه هره ایمانداره ډله یو مشر او لارښود ته ضرورت لری، تر هغه چې دوي ته لار ښونه وکړی او د ضرورت په وخت کې هغه چا ته چې بدل شوی وی سزا ورکړی. د جماعت د منځ ته راتلو څخه تر اوسه پاک خدای داسی خلک د خپلو زامنو لپاره په جماعت کې منځ ته راوړی دي. حضرت عیسیٰ دولس نفره وټاکل چې د دهٔ رسولان وی او د دهٔ پیغام د دنیا خلکو ته ورسوي او د هغه د جماعت بنسټ کښیږدي څرنګه چې وروسته په نوی عهد کې وینو لوی خدای نور کسان هم وټاکل چې په جماعت کې لارښود، مشران، خادمان او استادان وي. د حضرت مسیح دا ټول روحانی خادمان په مسیحی جماعت کې خپله وظیفه اجراء کوي.

## ۱۳- د عیسویانو مذهبي مراسم کوم دي؟

د عیسویانو لمانځنه له څو اړخو نه د نورو مذهبونو د لمانځنی سره فرق لری. کله داسی اشتباه هم کیږی چې عیسویان مذهبي وظیفی نه لری. په همدې وخت کې غواړم چې ووایم چې د عیسویانو مقصد له عبادت نه دا نه چې بچ شی او ګناهونه ئې وبخښل شي. د هغو کارونو له کبله چې مونږ سرته رسولی دي، خلاصون لاس ته راوړی نه شو. پاک خدای هغه وخت مونږ بخښی چې په حضرت عیسیٰ باندې ایمان راوړو. له دې کبله مونږ پاک خدای لمانځو چې د دۀ د نجات قدردانی وکړو. اوس اجازت راکړئ چې د مسیحیت د عبادت په باره کې په لنډ ډول څه ووایم:

### (۱)- دعا

حضرت عیسیٰ خپلو پیروانو ته داسې دعاوی نه دي ورښودلی چې په یو معین وخت کې په عبرانی یا یونانی ژبې باندې تکرار کړی، بلکه داسی ئې ویلی دي چې څنګه زامن کولی شی په هر وخت کې چې وغواړی خپل پلار ته ورشی او د هغه سره خبری وکړي هغوې هم کولی شی چې د یو زوی په شان د الله حضور ته ولاړ شي او په خپله مورنۍ ژبه له هغه سره خبری وکړي. د دعا کولو شکل ارزښت نه لری چې الله تعالی په خپل فکر او زړۀ سره ولمانځو (متی ۵: ۵-۱۵ او په یوحنا ۴: ۲۳-۲۴). مسیحیان هغه وخت چې نورو ایماندارانو سره په جماعت کې ټولنه کوي او

همدارنګه له خپل کورنۍ سره په کور کې او هغه وخت چې په ورځنی کارونو کې بوخت دي په پټه خوله دعا کوي. ډیر مسیحیان دا عادت لری چې هره ورځ د مقدس کتاب یوه برخه لولي او دعا کوي. هغوي پخپلو دعاؤ کې د پاک الله د هغه بې شماره نعمتونو له کبله مننه کوي، په خپلو ګناهونو اعتراف او بخښنه غواړي د ناروغانو د روغتیا لپاره او د بې ایمانانو د نجات لپاره دعا کوي او همدارنګه د خپلو حاکمانو او امیرانو لپاره د دنیا د صلحی د پاره دعا کوي. حضرت عیسیٰ وویل چې مونږ باید تل دعا وکړو (لوقا ۱۸: ۱). له دې کبله چې حضرت عیسیٰ د یکشنبی په ورځ له مرګ نه بیرته ژوندی شو، نو د یکشنبی ورځ د عیسویانو د پاره یوه مقدسه ورځ ده. لمانځنه په جماعتونو کې د یکشنبی په ورځ باندې کیږی مګر په نورو ورځو کې هم د عبادت مجلسونه جوړیږی. د جماعت د لمانځنی په مجلسونو کې مقدس کتاب ویل کیږی او روحانی سرودونه ویل کیږی او د جماعت ملا وعظ کوي. که تاسو غواړئ د عیسویانو د لمانځنی په مجلسو کې برخه واخلی ستاسو یو عیسوی ملګری تاسو هلته بوتللی شی.

## (۲)- روژه

حضرت مسیح د خپلو پیروانو د پاره روژی د نیولو کوم ټاکلی وخت نه دی ښودلی. له همدې کبله د هغه د پیروانو د پاره روژه اختیاري ده. حضرت عیسیٰ خپلو پیروانو ته فرمایلی دي چې هر

وخت چې روژه نیسئ د پاک الله د خوشحالۍ د پاره ئې ونیسئ نه د ریاکارانو غوندې چې خلک ستاسو تعریف او ستاینه وکړي (متی۲: ۱۲-۱۷). ځنې عیسویان د جمعې په ورځ باندې له دې کبله چې په دې ورځ باندې حضرت عیسیٰ مصلوب شو غوښه نه خوري ځینی نور هم څلویښت ورځی مخکې له هغه نه چې حضرت عیسیٰ مصلوب شو بعضې خواړه نه خوري. د دې رواجونو په باره کې په مقدس کتاب کې څه شي نه لیدل کیږي مګر دومره ویل شوي دي چې د ټولو بدو شیانو نه پرهیز وشي. دا غوره ده چې د حضرت مسیح دا خبره دلته یاده کړو چې ویلی ئې دي: د الله ټول نعمتونه حلال دي او هغه شی چې انسان پلیتوي هغه خواړه نه دي چې له خولې نه ښکته ځی، بلکه د هغه د ناپاکۍ سبب هغه بد کردار دی چې له زړهٔ څخه سرچینه اخلي او د زنا، غلا، قتل، تنګ نظري او غرور او داسې نورو سبب ګرزي (مرقوس ۷: ۱۸-۲۳).

## (۳)- زکات

حضرت عیسیٰ نه دي ویلي چې څومره شته او د عیسویانو د ګټې څومره برخه د الله د رضا د پاره بې وزلو ته ورکړل شي او داسې تعلیم یې ورکړی دی چې زمونږ شته ټول په الله پورې اړه لري او مونږ باید له هغه نه سمه استفاده وکړو، نو له دې کبله عیسویان د الله د نعمتونو د شکر ادا کولو لپاره په خپل میل او رضه د ملایانو، جماعتونو، بیوزلانو، ناروغانو او د حضرت

عیسیٰ د وینا د سوالانو د پاره د هغه چا غوږ ته چې آوریدلی ئې نه وي یوه اندازه مال او پیسی ورکوي. حضرت مسیح فرمایلی دي چې د دهٔ پیروان باید سخی اوسی تر هغه چې خدای پاک د دوي نه خوشحاله شي ډیر مسیحیان د خپلې میاشتنی ګټې لسمه برخه زکات ورکوی. دا زکات د دې د خاطره نه دی چې د خلکو د ستاینی وړ وګرځی (متی ۶: ۱-۴).

## (۴)- زیارت

حضرت عیسیٰ خپلو پیروانو ته نه دي فرمایلی چې کوم مقدس ځای ته ولاړ شي او عبادت وکړي ولی چې خدای تعالیٰ هر چیرته موجود دی.
ځینی عیسویان غواړی چې فلسطین ته لاړ شی او هغه مځکه وګوری چې حضرت عیسیٰ په کې ژوند کاوه. مګر هغه ځای ته تلل کوم مذهبي ثواب نه لری. دا یو ناممکن کار دی چې وکولي شي د حضرت مسیح په قبر باندې او د دهٔ بدن ته نژدې ولاړ شی ځکه چې دی په قبر کې نشته او ژوندی دی.

## (۵)- اخترونه

حضرت عیسیٰ خپلو پیروانو ته امر نه دی کړی چې په ټاکلو ورځو کې د اختر مراسم پر ځای کړی. عیسویان دری اخترونه لری: اول اختر د حضرت مسیح د تولد ورځ ده. ډیر مسیحیان د حضرت

عیسیٰ د پیدایښت نیټه د دسمبر **۲۵** نیټه ښيئ، او یوه برخه نور دغه نیټه د جنوری **۲** ښئیی. مګر د حضرت عیسیٰ د زیږیدنې اصلی نیټه معلومه نه ده. دوهم اختر د حضرت عیسیٰ د بیرته ژوندی کیدو په مناسبت ده چې مسیحیان خوشحالي کوي. د حضرت مسیح د بیرته ژوندي کیدلو نیټه د اپریل او مارچ د میاشتی د سپوږمۍ له مخې ټاکلی کیږی. د مارچ او اپریل د میاشتو تر منځ هره شپه چې سپوږمۍ پوره وی هماغه نیټه د اختر پیل دی دریم اختر د پنتکُست اختر دی چې اوه هفتی د حضرت عیسیٰ د ژوندی کیدلو له نیټی نه وروسته پیل کیږی، او هغه ورځ ده چې روح القدس د دهٔ په شاګردانو باندې نزول وکړ. دا دری اخترونه د عیسویانو د مذهبي اخترونو څخه دي. د نوی کال اختر (جنوری اوله نیټه) ملی اختر دی.

## (۲)- پاک رواجونه

حضرت عیسیٰ دوه مقدس عقاید مقرر کړی دي چې د هغه په جماعت کې باید وشي. لومړی بپتسمه ده چې مخکې مې د هغه په باره کې پوره رڼا واچوله، او هغه د جماعت د غړیتوب نخښه ده. دوهم مقدس عشاء ربانی خواړه دي. حضرت عیسیٰ مخکې له دې چې مصلوب شي، یوه شپه خپلو شاګردانو ته ئې ډوډۍ ورکړه او وئې ویل: ((دا زما ځان دی.)) همدارنګه دوي ته د انګورو اوبه ورکړی او هغوی ته ئې وویل چې: ((دا زما وینه ده)) حضرت عیسیٰ ډوډۍ او د انګورو اوبه د خپل وجود او وینو سره

برابر کړل او خپلو پیروانو ته ئې امر وکړ چې دا رسم دې په ټولو جماعتونو کې پر ځای کړي، او د دنیا په ټولو جماعتونو کې دا رسم پر ځای کړی. مسیحیان کله کله په مقدسو ځایو کې یو ځای کیږي او یوه ټوټه ډوډۍ چې د انګورو د اوبو سره وخوری او دا په یاد راوړی چې حضرت عیسیٰ د هغوی د پاره ځان قربان کړ او د هغه قدرت د ایمان په وسیله په خپل زړۀ کې وساتئ او پر ځای ئې کړئ. مسیحیان له دې مقدس رسم څخه ډیری روحاني ګټې آخلی.
(اول خط د کورنتیانو ۱۱: ۲۳-۳۰).

## (۷)- ازدواج

د حضرت عیسیٰ د تعلیمونو نه یو دا دی چې یو سړی باید یوه ښځه واده کړي او د زړۀ د کومي نه یو بل سره مینه ولری او یو بل ته د مرګ پوری وفادار اوسي. حضرت عیسیٰ ویلی دي: ((نو دوي دوه نه دي بلکه یو وجُود دي. ځکه چې خدای دوي یو ځای کړی دي نو بنی آدم دې ئې کله هم نۀ جُدا کوي)) (متی ۱۹: ۱-۱۲). ((هر څوک چې خپله ښځه طلاقه کړی او بله وادۀ کړي نو هغه د اولنئ ښځی په خلاف زنا کوي او دغه شان که یوه ښځه خاوند طلاق کړي او بل میړۀ وکړي نو هغه زنا کوي)) (مرقوس ۱۰: ۲-۱۲).
هغوی ته وئیلی شوی وو، کوم سړی چې خپله ښځه طلاقه کړي نو خامخا دې هغې ته طلاق نامه ورکړي. خو زۀ درته دا وایم چې کُوم

سړی چې د حرام کارئ نه بغیر په بل څه وجه خپله ښځه طلاقه کړی نو په هغې باندې زنا کوي، او هر څوک چې طلاقه شوي ښځه وادهٔ کړي هغه زنا کوي (متی **۵**: **۳۱-۳۲**).

پولوس وائي چې د ښځې او میړهٔ مینه باید داسې وي لکه چې د حضرت مسیح او د دهٔ د قوم تر منځ موجوده ده (افسیان **۵**: **۲۱-۳۳**).

## ۱۴- د حضرت مسیح اخلاقی تعلیمونه څه شی دي؟

په پخوانی عهد کې ډیر قوانین پیدا کیږي چې لوی خدای خپل قوم اسرائیلو ته وربخښلی دي. په لسو حکمونو کې چې لوی خدای خپل قوم اسرائیلو ته وربخښلی دي. په لسو حکمونو کې چې د خروج د کتاب په شلم فصل کې لیدل کیږی، لوی خدای مونږ ته امر کړی دی چې د خپل مور او پلار احترام وکړئ او له بدو اعمالو لکه قتل، زنا، غلا دروغ او د نورو مال ته د طمع درلودلو څخه ډډه وکړئ او دځ همدارنګه نور اخلاقی قوانین او امرونه وضع کړی دي تاسو خبر یئ چې هغوئ ته وئیلی شوی وو چې: ((د خپل ګاونډی سره مینه کوئ)) (متی **۵**: **۴۳** احبار **۱۹**: **۱۸**).

حضرت عیسیٰ د الله پاک په قوانینو کې هیڅ لاس ونه وهلو، مګر هغه ئې پوره او تکمیل کړ.

حضرت عیسیٰ وویل: که څوک پرته له خپلې ښځې، هري بلې ښځی ته په بده سترګه وګوري داسی معنیٰ لری لکه چې زنا ئې ورسره کړی وي. د حضرت موسیٰ شریعت یو سړی د زنا په سبب محکومولي مګر حضرت عیسیٰ شهوانی افکار چې له زړهٔ نه سر چینه اخلی او د شرارت او بدو کارو سبب ګرځي محکوموي. هغه وویل چې: باید رښتیا ووایو او قسم خوړل ئې منع کړل، ولی چې دځ عقیده درلوده چې هر څه چې وائی باید رښتیا وی او قسم خوړلو ته هیڅ ضرورت نشته. هغه خپلو پیروانو ته وویل چې: نه یوائې یو بل ته بلکه خپلو دښمنانو ته هم دعا وکړئ. هغه هر ډول

مستی او هر ډول غیر اخلاقی کارونه منع کړی دي. هغه وویل چې د خدای زامن باید هغه ډول کامل وی لکه چې د دوی آسمانی پلار کامل دی (متی ۵: ۱۷-۴۷). عیسیٰ د ژوندانه په باره کې یو امر وکړ چې په هر وخت کې په کار راځی هغه دا ؤ چې: ((ځکه د نورو سره تل داسې سلُوک کوئ لکه څنګه سلُوک چې تاسو د ځان لپاره غواړئ، د شریعت او د نبیانو تعلیم دا دی)) (متی ۷: ۱۲). دا ارزښتناک تعلیم یوائې اصولی قانون نه دی بلکه انسان له خرابو کارونو نه منع کوی او مونږ ته وائی چې هغه کار چې زمونږ خوښ دی باید له نورو سره وکړو تر څو چې هغوي هم هماغسی کار زمونږ سره وکړی. انجیل شریف د ډوډی، کالی او نورو شیانو په شان څه نه دي ویلی چې د زمانی سره فرق ولری. داسې شیان ئې ویلی دي چې په هر زمانه کې د منلو وړ دي له دې سببه انجیل دایمی دی. دا عیسیٰ ټول تعلیمات کولی شو چې د مینی په کلیمه کې خلاصه کړو. د حضرت عیسیٰ مینه یوه کامله مینه ده او هغه خپلو شاګردانو ته وویل چې: یو بل سره باید داسی مینه ولری لکه چې دی ئې له دوي سره لری (یوحنا ۱۵: ۱۲). مونږ عیسویان ښه پوهیږو چې حضرت عیسیٰ له مونږ سره څنګه محبت وکړ او زمونږ لپاره مړ شو او خپل ځان ئې قربان کړ، له هغه نه زده کوو چې له نورو سره محبت وکړو (اول یوحنا ۴: ۱۹). د حضرت عیسیٰ روح د مسیحیت روح دی. هغه وخت چې حضرت عیسیٰ خپل روح مونږ کې ځای پر ځای کړی، هغه وخت کولي شو چې د خپلو دښمنانو سره هم مینه ولرو (رومیان ۵: ۱۵، ۱۲: ۱۷-۲۱). دا مینه باید زمونږ په زړونو کې پاتي نه

شي، بلکه باید هغه عملاً څرګنده کړو. یوحنا رسول وائی که څوک کولی شی چې له خپل بیوزلی ورور سره مرسته وکړی، مګر له هغه سره مرسته نه کوي، د ده په زړهٔ کې د خدای پاک مینه نشته.

په دې وروستیو کرښو کې د پولوس وینا د مینی په باره کې بیانئوو چې ډیر د ارزښت وړ ده:

((که چیری زه د فرښتو او د بنی آدمو په ژبه خبري کوم او مینه نهٔ لرم نو زه ټنګیدونکی پیتل یا جنیدونکی جنجنی یم. که زه نبوت کولي شم او که ټول پټ حقیقت ماته معلُوم وي او که د ټولو علمونو ماهر شم او که زما ایمان به تر دې مضبوط وي چې غرونه وخوزوم، خو که زه مینه نهٔ لرم نو هیڅ نهٔ یم. که زه خپل ټول مال په خلقو وخوروم تر دې چې خپل بدن سوزولو ته ورکړم، خو که زه مینه نهٔ لرم نو هیڅ فائده نشته.

مینه صابره ده، مینه مهربانه ده او هیچا سره کینه نهٔ لری، مینه نهٔ خو لاپے وهی او نهٔ لوئی کوي، نهٔ بے ادبی کوی، نهٔ په خپل مطلب پسے ګرزی، نهٔ غصه کوی او نهٔ بدګمانی کوی. مینه د نورو د بدو حساب نهٔ ساتی او نهٔ د نورو په بدکارئ خوشحالیږی بلکه په رښتیاؤ خوشحالیږی. داسی هیڅ څیز نشته چه مینه ئے زغملی نهٔ شی، په هر څهٔ یقین کوي، د هر څه امید لری او د هر څهٔ زغم کوي. د مینی زوال نشته. که نبیان وي نو د هغوئ کار به ختم شي، که ژبی وي نو ختمی به شي، که علم وي نو فنا به شي، ځکه چه زمونږ علم او زمونږ نبوت ناقص دی. خو کله چه کامل راشي نو ناقص به تیر شی. کله چه زه ماشوم وم نو د ماشومانو

غونډې خبرې مې کولې، د ماشومانو په شان طبيعت مې وُو او د ماشُومانو په شان مې پوهه وه، خو هر کله چه ځوان شوم نو د ماشُوموالی خبری مې پريښودلې. اوس مونږ ته دا په آئينه کې تَت تَت ښکاری خو په هغه وخت به ئې مخامخ ووينو. په دې وخت زما علم ناقص دی خو په هغه وخت به په پوره طور وپيژندلې شم لکه چه خدائے زه پيژندلی يم. لنډه دا چه ايمان، اميد او مينه دری واړه پاتی کيږي خو په دوئ کې مينه افضله ده)) (اول کورنتيان ۱۳ باب). حضرت مسيح خپل محبت او مينه يواځې د خبرو د لاری نه، بلکه د ناروغانو د شفاء د لاری د ورو د مړولو له لاری او د ځان د قربانولو د لاری خلکو ته څرګند کړ.

همدا د حضرت عيسیٰ محبت دی چې د ده پيروان تشويقوي چې روغتونونه، مرستونو نه د يتيمانو د پاره ښوونځی د ماشومانو لپاره او نور شيان د دنيا د خلکو د پاره جوړ کړی.

حضرت عيسیٰ غوښتل چې د دهٔ شاګردانو يواځنۍ نخښه مينه وي (يوحنا ۱۳: **۳۵**). مونږ عيسويان بايد په ډير شرم سره ووايو چې زمونږ مينه نيمګړی ده، خو رښتنی عيسويان غواړي چې د خپل استاد غوندی له نورو سره مينه ولری.

## ۱۵- د عیسویانو عقیده د قیامت په هکله

څرنګه چې مخکې وویل شو مسیحیان په مطلق قادر خدای باندې ایمان لری چې د دې دنیا د پاره یوه نقشه لری او دا نقشه به عملي شي. هغه وخت چې انسان د پاک الله په مقابل کې جګ شو او له خپل حد نه ئې تیري وکړ، لوی خدای حضرت عیسیٰ د انسان د خلاصون د پاره راولیږه هر هغه څوک چې په زوی ئې ایمان راوړی هلاک نهٔ شي خو د تل عمری ژوندون بیا مومی، خو چا چې پرې ایمان نهٔ دی راؤړی هغه خو د مخکې نه مجرم شوی دی (یوحنا ۳: ۱۲-۱۹). په پای کې به لوی خدای خپل ټول دښمنان د ځان تابع کړی او خپل آسمانی دولت چې په هغه کې هیڅ ډول شرارت نه وی منځ ته راوړی. په مقدس کتاب کې د راتلونکی د پاره دا پیشګویې پیدا کیږی مګر دا د لوی خدای اراده نه ده چې ټول شیان مونږ ته څرګند کړی. له دې کبله چې ډیر عیسویان د پیغمبرانو د راتګ په باره کې مختلف تفسیرونه کوی. اوس به زه هغه راتلونکی پیښې چې د ډیرو عیسویانو د باور وړ دي تاسې ته تشریح کړم:

### (۱)- د حضرت عیسیٰ راتګ

مخکې له دې نه چې حضرت عیسیٰ آسمان ته ولاړ شی خپلو شاګردانو ته ئې ځلې دا ډاډ ورکړی چې بیرته به راشی او مسیحیان تر اوسه د ده د راتګ په طمع کې دي. د حضرت عیسیٰ

اول راتګ ئې د انسانانو د خلاصون د پاره ؤ، مګر د ده دوهم راتګ د قضاوت او د لوی خدای د بادشاهی جوړولو لپاره دی.
هغه وخت چې د حضرت عیسیٰ مریدانو له هغه نه پوښتنه وکړه چې دی څه وخت بیرته راځی هغه وویل چې: لوی خدای د هغه د راتګ په وخت پوهیږی او خلکو ته یې وویل چې دوی باید همیشه تیار وی چې دی هغه وخت راځی چې څوک د ده په طمع نه وی. هغه وویل چې له ډیرو ملائیکو سره به راشی او د ده راتګ به لکه تندر او بریښنا هر څوک ووینی. هغه خپل شاګردان د دروغجنو پیغمبرانو له راتګ نه خبر کړل. په ښه توګه پوهیږو چې د دې اوږدو کلونو په موده کې ډیر دروغجن پیغمبران راغلل، مګر ښه عیسویان تیر نه وتل ولی چې حضرت عیسیٰ دوی ته دا خبره څرګنده کړه چې هر څوک ووائی چې حضرت عیسیٰ راغلی دی او په هغه ځای کې دی او په دې ځای کې دی هغه رښتینی مسیح نه دی.
هغه وخت چې رښتنی مسیح له آسمان څخه راځی د دنیا ټول خلک به هغه پیژنی او دې ته ضرورت نشته چې دا خبره له نورو څخه واوری.
هغه وخت چې حضرت عیسیٰ آسمان ته پورته کیده ملائیکو د هغه شاګردانو ته چې ده ته ئې کتل وویل: «ای ګلیلیانو! تاسو دلته څه له آسمان پلو ځیر ځیر ګورئ؟ دغه عیسیٰ څوک چې ستاسو نه آسمان ته بوتلی شو، هم په دغه لار به بیا راځی په کُومه چې تاسو د تلو په وخت ولیدلو» (اعمال د رسولان ۱: ۱۱).

حضرت عیسیٰ به په دوهم وار د ماشوم په توګه دنیا ته رانه شي، یعنی څنګه چې ئې اول ځل په مځکه ژوند وکړ او مړ شو.

ولې چې مقدس کتاب وائي: «مونږ ته دا معلُومه ده چې مسیح یو ځل له مړو نه ژوندی شوی دی، نو بیا هیڅ کله مړ کیدی نۀ شي او مرګ په هغه باندې نور هیڅ واک اختیار نۀ لری» (رومیان ۶: ۹). له دې نه معلومیږی چې د هغه وخت نه چې آسمان ته جګ شوی دی بیرته راغلی نه دی.

هغه وخت چې حضرت عیسیٰ د مړینی نه ژوندی شو، د هغه بدن په روحانی بدن باندې بدل شو، او په هغه مرګ لاره نه درلوده. له دې کبله ده کولی شول چې د ملائیکو غوندی ځان څرګند او پټ کړی. اوس دی د دې روحانی بدن سره به بیرته راشی او خلکو ته به څرګند شی. تل عیسویانو د حضرت عیسیٰ د راتګ او د وخت او ځای په باره کې بې آساسه خبرې کړی دي. ښه دی چې مونږ داسې بې آساسه خبره ونه کړو. مونږ باید په دې ډول ژوند وکړو، او داسې خپل خدای راضی کړو چې هر وخت د ده راتګ نه د ښه راغلی د پاره تیار واوسو (متی ۲۴ او ۲۵ بابونه). هغه وخت چې حضرت عیسیٰ بیرته راشی څه ښه به وکړی؟ د دې سوال جواب په مقدس کتاب کې بیخی څرګند دی. یوه برخه مسیحیان عقیده لری چې حضرت عیسیٰ د دنیا ټول شرارت له منځه وړی او د پاک خدای حکومت به په مځکه جاری کړی او په پادشاهی کولو به بوخت شی. ټول خلک به د ده د فرمان لاندې وی او ریښتنې عدالت به منځ ته راشی. هغه وخت به ژوند د مځکی پر مخ هغه ډول وی لکه چې د پاک الله اراده وه. او د انسان د سرغړونی نه

مخکی باید دا کار شوی وای. یوه بله برخه عیسویان داسې فکر کوی چې د حضرت عیسیٰ بادشاهی به د دنیا د بادشاهی غوندې نه وی او دی به یو روحانی بادشاه په شان په دایمی توګه بادشاهی وکړی. هغه وخت چې دی راشی، د ده کارونه به بې شکه زمونږ د سوچ څخه ډیر لوی وی. او دا یوه څرګنده خبره ده چې دې ته اړ نه دی چې مونږ په دې اسرارو وپوهیږو.

## (۲)- د مړو ژوندی کول

حضرت عیسیٰ وویل: ((په دې حیرانیږئ مه ځکه چې یو داسې وخت راتلُونکی دی چې هغه ټول څوک چې په قبرُونو کې دي به د دهٔ آواز آوری... او چا چې نیکی کړی وی هغوئ به د تل ژوندون لپاره او چا چې بد کړی وی هغوئ به د سزا لپاره راپورته کړی شی)) (یوحنا ۲۸:۵-۲۹). حضرت عیسیٰ خپله وائې چې هغه به مړه ژوندی کوی څرنګه به چې په فلسطین کې ژوندی کول، او یو څه مړی ئې ژوندی کړل. هغه وخت چې مړی ژوندی شی د دوی بدن به څنګه وی؟ پولوس رسول وائې چې د ایماندارانو بدن د قیامت په ورځ داسې بدل شی لکه چې تخم په خاوره کې وشیندل شی او بوټی له هغه نه شنه شی (اول کورنتیان ۱۵ باب). د هغه چا په جواب کې چې له حضرت عیسیٰ نه ئې د راتلونکی ژوند په باره کې پوښتنه وکړه، ده وویل: په راتلوونکی ژوند کې به هیڅ ډول واده نه وی او ایمانداران به د ملائیکو غوندې ژوند وکړی (متی ۲۲: ۳).

## (۳)- وروستنی قضاوت

حضرت عیسیٰ به یوائې مړی ژوندی نه کړی، بلکه د ټولو خلکو په باره کې به قضاوت هم وکړی ټول خلک به د ده په حضور کې راټول شی. ګناهګاران به له بې ګناهو نه داسې جلا کړی، لکه چې شپون وری له پسو څخه جلا کوی. هغه چا ته چې به د ناروغانو او پیوزلو سره مرسته کړی وی داسې ووائی چې: ((راځئ زما د پلار مبارکو خلقو! د بادشاهئ وارثان شئ چې د دنیا د پیدایښت راسی تاسو ته جوړه شوی وه په هغې کې داخل شئ.)) او هغه چا ته چې د نورو سره ئې مینه نه درلوده وبه وائې: ((ای لعنتیانو! زما د سترګو نه پناه شئ او هغه تل عمری اور ته لاړ شئ چې د شیطان او د هغهٔ فرښتو لپاره تیار شوی دی!)) دوی به په ابدی اور کې سوزی او صالحین به په ابدی ژوند کې ژوند وکړی (متی **۲۵**: ۳۱-۴۲). الله تعالیٰ به د ټولو انسانانو قضاوت حضرت عیسیٰ په لاس ورکړی. مونږ ټول له هر قام او مذهب نه چې اوسو یوه ورځ به د حضرت عیسیٰ عادلانه حضور ته ودریږو او د هغو کارو سره سم چې د ژوند په موده کې مو په دې دنیا کې کړی وی، دی په زمونږ د عمل قضاوت کوی (یوحنا **۵**: **۲۲** او اعمال **۱۷**: **۳۱** او دویم کورنتیان **۵**: ۱۰). البته دی یو عادل قاضی دی او د رحمت له مخې نه به عدالت وکړی.

آیا داسې څوک پیدا کیږی چې له دې ویروونکی ورځ نه ونه ویریږی. هو هغه څوک چې په عیسیٰ د قضاوت نه ونه ویریږی

ولې چې هغه فرمايلي دي: ((رښتيا رښتيا تاسو ته وايم، کُوم سړی چې زما خبرو ته غوږ ږدی او په هغه چا باور لری چې زه ئې را استولی يم هغه تل عُمری ژوندون لری او په هغۀ به د سزا حُکم ونۀ شی ځکه چې هغه د مخ کې نه د مرګ نه ژوندون ته اوړېدلی دی)) (يوحنا **۵**: **۲۴**). هو هغه چا چې په حضرت مسيح باندې ايمان راوړی وی بيخې بې ګناه نه دی مګر پاک الله به ئې ومنی ولی چې دوی باور لری چې عيسیٰ د دوی د پاره ځان ورکړی دی. په عادلانه قضاوت کې هغه څوک چې په حضرت عيسیٰ باندې باور لری د خپل وفاداری انعام به واخلی (متی **۲۵**: **۱۴**- **۳۰** اول کورنتيان **۳**: **۱۲**-**۱۵**).

د هغو کسانو جزا چې د حضرت عيسیٰ مسيح نه منکر دي څه ده؟ ((څوک چې په هغۀ ايمان راؤړی هغه به مجرم هم نۀ شی خو چا چې پرې ايمان نۀ دی راوړی هغه خو د مخکې نه مجرم شوی دی ځکه چې د خدای د يکی يو زوی نه منکر دی. او د مجرم کيدلو سبب دا دی چې دنيا ته نور راغلی دی خو خلق د نور په ځائې په تيارۀ ځکه خوشحاله وو چې د هغوئ کارُونه بد وو)) (يوحنا **۳**: **۱۸**-**۱۹**). هغه څوک چې د خدای زوی نه منی، خدای تعالیٰ نه منی او په حقيقت کې له دې نه پورته ګناه نشته.

ګرانه وروره! اوس په ښه توګه کولی شی چې وپوهيږی چې مونږ مسيحيان ولی غواړو چې ټول خلک چې په هر ځای کې وی حضرت مسيح وپيژنی او په هغه باندې ايمان راوړی، ولی که دوی هغه ونه منی لوی خدای به هم دوی ونه منی.

## (۴)- جنت او دوزخ

له هغه څه نه چې تر اوسه پورې چې ویل شوي دي د عیسویانو د راتلوونکې ژوند په باره کې د هغه عقاید په ښه توګه بیانوي. هغه څوک چې د حضرت مسیح له خوا منل شوي وي د خدای تعالیٰ په مخ کې حاضریږي او په خوشحالۍ سره تل تر تله ژوند کوي.

حضرت عیسیٰ وویل: ((زما د پلار په کور کې د اوسیدو ډیر ځایونه دي. که چیرې داسې نه وي نو بیا به ما تاسو ته وئیلي وو. ځکه زه ځم چې ستاسو لپاره هلته ځای تیار کړم... او که هلته لاړ شم او تاسو ته ځائې تیار کړم نو په خپله به بیا راشم او تاسو به ځان سره بوزم، ځکه چې چیرته چې زه یم هلته به تاسو هم یئ)) (یوحنا ۱۴: ۲-۳).

د مقدس کتاب په پای کې یوحنا رسول د ژوند برم د خدای تعالیٰ په حضور کې داسې تشریح کوي.

((بیا ما یو نوی آسمان او یوه نوې مځکه ولیده ځکه چې وړومبنی آسمان او وړومبنۍ مځکه غائب شوي وو او سمندر هم نه وو. او ما پاک ښار، یعنې نوی بیتُ المقدس ولیدلو چې د خدای له طرفه له آسمان نه راکُوزیدو، او دا داسې تیار کړی شوی وو لکه چې ناوې د خپل خاوند لپاره ښکلې تیاره کړی شوي وي ما له تخت نه یو اوچت آواز واؤریدو چې دا ئې وئیل چې ګورئ! اوس خدای د بنی آدمو په مینځ کې استوګنه کوي، هغه به د هغوئ سره اوسیږي او هغوئ به د هغهٔ امت وي او خدای به په خپله هغوئ سره وي. هغه به د هغوئ د سترګو ټولې اوښکې وچې

کړی، هلته به نۀ مرګ، نۀ ویره، نۀ ژړا او نۀ درد وی ځکه چې وړومبې څیزُونه تیر شوی دي. بیا څوک چې په تخت ناست وو، هغۀ وویل چې وګورئ! زه ټول څیزُونه نوی کوم! او هغۀ ما ته وویل چې دا ولیکه ځکه چې دا ټولی خبری د اعتبار لائقی او رښتیا دي. نو ما ته یې وویل چې وشو! الفه او اومیګه زه یم، الاول او آلاخر زه یم هر څوک چې تږی وی زه به هغۀ ته د ژوندن د اوبو له چینو نه د څښلو حق ویړیا ورکړم. هر څوک چې غالب شی هغه به د دې وارث شی، زه به د هغۀ خدای یم او هغه به زما زوی وی)) (مکاشفه ۲۱: ۱-۷).

دغه دی هغه جنت چې د پاک خدای د بنده ګانو د پاره جوړ شوی دی. د جنت برم او لویوالی زمونږ د سوچ څخه ډیر لوړ دی، ولې چې مقدس کتاب وائي: ((څه چې نۀ سترګو لیدلی، نۀ غوږُونو آؤریدلی او نۀ د انسان په زړۀ کې راغلی دي، هغه څیزُونه خدای د هغوئ لپاره چې ورسره مینه لری، تیار کړی دي)) (اول خط د کورنتیانو ۲: ۹). څوک چې د خدای تعالیٰ اطاعت نه کوی د هغوی انجام به څه وی؟ خدای تعالیٰ وائي: ((خو د ویریدونکو، بې ایمانو، پلیتانو، قاتلانو، حرامکارانو، جادوګرانو، بُت پرستانو او هر قسم دروغژنو برخه به په هغه تالاب کې وی چې په کې د ګوګړو اور بلیږی، او دا دویم مرګ دی)) (مکاشفه ۲۱: ۸). دوزخ هغه ځای دی چې انسان د پاک خدای د نور او محبت نه لری کیږی او په یوه ژبه یی هم په پوره توګه تعریف نه شو کولی، کاشکی ټول خلک د ابدی سزا پر ځای د ابدی ژوند په لټه کې شی.

## (۵)- د ایماندارانو مرګ

آیا هغه څوک چې په حضرت عیسیٰ باندې ایمان لری له مرګ څخه ډاریږی؟ نه خیر، هغوی له مرګ څخه نه ډاریږی، ولی چې حضرت مسیح له دوی سره وعده کړی ده چې پس له مرګ څخه به دوی له هغه سره ژوند وکړی (دویم کورنتیان **۵**: **۸**).
پولوس رسول هغه وخت چې ممکن ؤ په روم کې اعدام شی. داسې ئې ولیکل: ((زه په دواړه طرفه ښتنی یم. زړۀ خو مې دا غواړی چې رُخصت شم او مسیح ته لاړ شم ځکه چې دا ډیر زیات غوره دی)) (فیلپیان ۱: **۲۳**). کله نا کله خلک تبلیغ کوی چې مسیحیان د خپلو عزیزانو د مړینې په وخت کې سندری وائی. د دې کار دلیل دا دی چې مونږ پوهیږو چې هغوی مړه نه دي او مسیح ته تللی دی په عین حال کې چې مونږ د دوی د جدائې څخه خفه یو ولی پوهیږو چې دوی مسیح ته تللی دي خوشحالیږو.

# خاتمه

ګرانه وروره! اوس باید خپل اوږد لیک پای ته ورسوم او امید لرم چې ستاسې د سوالونو د پاره مې قانع کوونکی جوابونه درکړی وی. بې شکه نور سوالونه هم لری، چې تر اوسه پوری مې د هغو جواب نه دی درکړی. بې شکه غواړی چې پوښتنه وکړی چې نني علمی پرمختګونه د حضرت عیسیٰ د ایمان سره فرق لری؟ نه په هیڅ ډول فرق نه لری. لوی خدای د ټولو حقیقتونو سر چینه دی دا حقیقتونه که په مقدس کتاب کې دي او یا که په طبیعت کې د ربنتیانی ایمان او ربنتیانی پوهې په منځ کې هیڅ فرق نشته. د نننی زمانې ډیر پوهان د حضرت مسیح د ایماندارانو څخه دي هر څومره چې پوهان د دې لوی عالم رازونه څرګند کړی، په هماغه اندازه مونږ د لوی خدای په لویوالی، حکمت او جلال باندې پوهیږو. تاسې د ډیرو نور خلکو غوندې د دې دنیا د جنګ، بې عدالتی، رنځ، بیوزلی او نورو شیانو، نه غمجن ئې او پوښتنه کوی چې ولې پاک خدای اجازه ورکوی چې دا شرارتونه په دنیا کې پیدا شی. هغه جواب چې مقدس کتاب مونږ ته راکوی دا دی. دا ټولې ګناوې او بدی د ګناهګار انسان په واسطه منځ ته راځی، نه د خدای پاک په واسطه. خدای تعالیٰ اوس هم په دې حاضر وخت کې خلکو ته د خپلو ګناهونو په سبب سزا ورکوی.

همدارنګه چې مې مخکې وویل په آخر کې هم خدای تعالیٰ هر سړی د خپل ګناه په اندازه مجازت کوی. دنیا د خدای تعالیٰ تر نظر لاندې اداره کیږی، که نه شو کولی چې وپوهیږو دومره

شرارتونه په جهان کې شته، ولی دومره پوهیږو چې په آخر کې به دی ابلیس په دوزخ کې واچوی او خپل ابدی حکومت به منځ ته راوړی.
ګرانه وروره زما یو ضروری غوښتنه له تاسې نه دا ده چې مقدس کتاب ښه ولولئ او دعا وکړي چې لوی خدای د هغه لارښوونو په پوهیدلو کې ستاسو سره مرسته وکړی، او په ایمان لرلو سره په حضرت عیسیٰ مسیح باندې تاسې د لوی خالق زوی شئ. اوس نو امید لرم چې د خپل ټول ژوند په موده کې خپل خدای او د هغه خلکو ته خدمت وکړی او پس له دې نه به د حضرت مسیح سره یو ځای د خپل آسمانی پلار په کور کې ژوند وکړی.

ستاسو نژدې او وفادار ملګری
ویلیام م میلر